شعر پېژندنه

د اکادمیسین کاندید محمد صدیق روهي

شعرپېژندنه

(د مقالو مجموعه)

PROPERTY OF ACKU 6075

لیکوال

کاندید اکادمیسین محمّد صدیق روهي

۱۳۷۴ هـ ، ش

د دې کتاب د چاپ لګښتونه سباغلي
ایمل پسرلي برابر کړي دي .

دکتاب پېژندنه:

- دکتاب نوم : شعر پېژندنه
- لیکوال : کاندید اکادمیسین محمدصدیق روهي
- خپروونکی : د ناهید کتاب چاپولو مؤسسه
- دچاپ کال : ۱۹۹۶ع / ۱۳۷۴ هـ ش
- خطاط : س . م . د هاشمي
- د پښتي انځور : حامد سحر
- دچاپخانه : ملت پرنټرز لاهور

یادښت

په تېرو څو کم دېرو لسیزو کې د افغانستان د معاصر پښتو شعر په جریان شاعرانو خپلې ونډې څېرې کړې او د سوسیالستي ریالیزم پلوي کره کتونکیو په خپلو لیکنو او کره کتنو کې په شعر کې شعاري تمایلات موجه او زیاتې کړل او د شعر هغې انقلابي ارزښتونه یې، چې شعر ته ژوند بخښي، بابېزه او هسې د ګل و بلبل خبرې ګڼلې.

د مسلط رژیم فکري بنسټونو ته په پاملرنه شاعرانو او د دې تمایل د ملاتړ یو کره کتونکیو نظریو بنه چپې ملاوړ، د هېواد مطبوعات ټول له دغه ډول لیکنو او شعرونو ډک وو.

د شپېتو کلونو په اواخرو کې زموږ د هېواد نامتو ادیب او کاندید اکاډمیسین محمد صدیق روهي په شعر او د شعر په کره کتنه کې د مضو تمایلاتو په وړاندې ځینې داسې لاربنودې مقالې ولیکلې چې د شعر اصلي ماهیت ته په پاملرنه یې ځینې جالب نکات درلودل. د دې مقالو نظریو په ځوانو شاعرانو او کره کتونکیو کې ډېر لوستونکي او علاقمندان پیدا کړل.

له مقالو سره د ځوانانو د دې مینې نه دا څرګندوم چې دا مقالې ټولې شي او په یوه مجموعه کې چاپ شي. هماغه وچې په ۱۳۷۰ هش کال دا مقالې د کاندید اکاډمیسین روهي تر نظر لاندې راټولې شوې او دوی یوه لنډه مقدمه هم پرې ولیکله او هماغه کال په دویمه نیمایي کې د یوه هغه بریالي باجوړي په خاطرې پاملرنه، چې په هغه وخت کې د لیکوالو د انجمن د ادبي خپرونو مسئول و، د لیکوالو انجمن له خوا چاپ ته ولېږل شوې، خو ځکه تر دې چې چاپ شي په کابل کې پخواني رژیم سقوط شو، هر څه چور او تالان شول، دا مجموعه هم ورکه شوه.

په پېښور کې هم تل دا مجموعه په زړه را ګرځېده او دا مې هیله وه چې که بیرته یې په لاس راولم او بیا چاپ یې کړم بریالی شم. په دې لړ کې مې خپل کوښښ جاري وساته. د دوستانو په مرسته د دې لړۍ هغه مقالې چې په شپشاد، کابل او ژوندون مجلو کې چاپ وې، هغه تر لاسه شوې، خو د اخبارونو مقالې مې پیدا نه کړې.

په وروستیو کلونو کې کاندید اکاډمیسین روهي دوې درې نورې کوچنۍ مقالې هم ولیکلې، چې په وفا کې چاپ شوې وې، سرلاسي مې دغه موجودې مقالې په دې مجموعه کې واخیستې او نوم مې پرې [illegible] کېښود، دا ځکه چې د دې مجموعې د دویمې مقالې عنوان همدا دی او له بلې خوا ټولې مقالې د شعر او د شعر د ماهیت په باب دي.

کله چې مجموعه راټوله شوه او بشپړه یې سید محي الدین هاشمي خطاطي کړه، نو مې د سریزې لپاره خپل استاد کاندید اکاډمیسین پوهاند ډاکټر محمد رحیم الهام ته وسپارله، دوی په ډېره مینه یوه ممتع مقدمه پرې ولیکله چې [illegible] په سر کې تاسې ته وړاندې کېږي.

دلته باید دا یادونه وکړم چې ما ته د ګران ځوان فرهنګي ایمل پسرلي زما د دې رسالې د پښتو ټولنې (تصنیف او تالیف ریاست) د چاپ لپاره د ۱۹۹۴ ع کال په اکتوبر کې څه پیسې را ولېږلې وې. ما د خپلې رسالې د دې رسالې چاپ د ځوانانو لپاره غوره وګاڼه، نو ځکه د خپلې رسالې په پیسو دا رساله چاپ کړه.

زه په پای کې له استاد الهام، چې زما په غوښتنه یې ډېره ګرانبیه مقدمه پر مجموعه ولیکله او هم له ښاغلي سید محي الدین هاشمي، چې دا مجموعه یې په مینه خطاطي کړه، ډېره مننه کوم او ګرانو لوستونکو ته یې د لوستو ته را بولم.

په درناوي

سرمحقق زلمی هېوادمل

۱ / / ۱۳۷۴ هش

فهرست

شمېره	سرلیک		مخ
۱ -	سریزه	د کاندید اکادمیسن پوهاند دوکتور الهام	۱
۲ -	د شعر پېژندنه		۱۵
۳ -	شعریت یعنې څه ؟		۲٤
٤ -	ادبي ارزښت		٤٨
٥ -	نثر او شعر		٥٩
٦ -	شعر او د نوښت مسأله		۷۳
۷ -	د شاعر قلمرو		۸۱
۸ -	شاعر د شاعر په توګه		۸۸
۹ -	منثور شعر او منظوم نثر		۹۲
۱۰ -	د شعر ذاتي او بهرني معیارونه		۹۷

سریزه :

دشعر دماهیت مسأله

د نړۍ په فرهنګي نظام کې ادبي څېړنې ، په تېره بیا د شعر پر ماهیت باندې فلسفي تأملات ، خورا اوږده سابقه لري. دا خبره اوس جوته شوې ده چې شعر د نورو هنرونو ، لکه موسیقي ، مجسمه جوړول ، نڅا ، معمارۍ ، نقاشۍ او سینما ، په څنګ کې یو هنر دی . د هرې پدیدې علمي څېړنه لې تر لږه دوو عمده او بنسټیزو عناصرو ته اړتیا لري چې یو یې د هغې پدیدې د ماهیت په باب فلسفي نظریه او بل یې د څېړنې میتود دی. په دې دوو عناصرو کې نظریه اصلي او میتود د فرعي توکو دی ، یعنې ترڅو پورې چې نظریه تثبیت نه شي میتود رامنځ ته کېدای نه شي . خو له بده مرغه دیوې پدیدې د ماهیت په باب نظریه رامنځ ته کول هم ځانته میتود لري . که د نظریې جوړولو له تفصیلي بیان څخه تېر شو او په مجمله توګه یې وڅېړو ، نو کېدای شي ووایو چې نظریه یا په خالص ذهني میتود یا دا چې په بېخي عیني میتود رامنځ ته کېږي . په ذهني میتو-

کې له منطقي قیاس او په عیني میتود کې له استقراء څخه کار اخیستل کېږي.
که نظریه په ذهني (قیاسي) میتود بناء شوې وي سوچه ایدیالیستي بڼه
لري او که په عیني (استقرایي) میتود تکیه ولري، نو پوره میکانیستي
بڼه غوره کوي. د یوې پدیدې د ماهیت په باب په دې دواړو نظریو
باندې اعتراضونه شوي دي او یو بل داسې میتود تجویز شوی دی
چې قیاس او استقراء، ذهنیت او عینیت دواړه په کې په ترکیبي او امتزاجي
دود کارول کېږي. زه دلته د دې قصد نه لرم چې د تیوري (نظریې) د بنا
کولو ټول ضوابط او شرایط وڅېړم؛ خو دومره وایم چې کله نظریه بنا شي،
نو باید چې افاده شي. هره علمي نظریه د خپل موضوع له ماهیته سره ځانته
خاصې مقولې لري چې د هغو په واسطه هغه نظریه په وینا یا لیکې بیانېږي.
د هر علم دغه خاصې مقولې یا علمي اصطلاحات د هغه علم ژبه تشکیلوي.
مثلاً که وویل شي چې شعر محاکات دی، یا شعر مخیّل کلام دی، په
دې نظریو کې شعر، محاکات، مخیّل او کلام د شعر پوهنې ځینې مقولې
دي. له دې مثالونو څخه جوتېږي چې په علم کې هره مقوله د نورو مقولو
په واسطه، چې هغه هم په خپل وار توضیح غواړي تعریفېږي. د مثال په
توګه، که ووایو چې «شعر هنر دی»، د «شعر» مقوله د «هنر» د مقولې په
واسطه توضیح کړو. وروسته سمدستي دا سوال را مینځ ته کېږي چې هنر
څه شی دی؟ که وویل شي چې هنر د انسان په واسطه د ښکلا هستول دي،
نو بیا بل سوال را مینځ ته کېږي چې ښکلا څه شی دی؟ که ووایو چې ښکلا احساس
دی، باید د احساس مقوله تعریف کړو چې هغه څه شی دی. دلته د
اروا پوهنې ارت او مرموز سیند ته ورګډ یو او مجبور یو چې د احساس
او ادراک فیزیولوجیکي - عقلاني میکانیزم تشریح کړو. له دې مجمل

تفصیل څخه سمدلاسه دا مهمه نتیجه لاس ته راځي چې شعر یو هنر کوم ساده او آسان علم نه دی، نور علمونه ورسره ګډ بوي، خورا پېچلی او مشکل علم دی. مجرد علم هم نه دی، مرکب دی. له نورو پدیدو سره بالذات یې اړیکې او ډېر زیات بُعدونه او اړخونه لري. سړی کولی شي د شعر په ماهیت، د شعر په اساسي توکو (تخیّل او تفکر)، د شعر د شکل او محتوی په اړیکو، د شعر په هدف (رسالت) او دنده، د شعر په وزن (ریتم، ایقاع) د شعر په لفظي او معنوي فنونو، د شعر په قالبونو، ډولونو، میتودونو او سبکونو، د شعر په موضوعاتو، د شعر په ژبه، د ملي، عقیدتي او نړیوال شعر په ځانګړنو، د شعر په نقد او د نقد په معیارونو، ضوابطو، د ولونو او دودونو، له فردي قوتونو او طبیعت سره د شعر په اړیکو او په لسګونو نورو موضوعګانو باندې خبرې وکړي.

ما مخکې وویل چې شعر یو هنر علم دی. آیا شعر یو هنر، د علم په معاصر مفهوم، رښتیا علم دی؟ دې پوښتنې ته چا هم قانع کوونکی جواب نه دی ویلی. ځینو ویلي دي چې هنر علم دی، ځینو ویلي دي چې هنر علم نه دی، ځینو ویلي دي چې هنر دی او ځینې بیا وایي چې د علم او هنر په مینځ کې یو ډول پوله ده. زما ناقص عقل قبلولای شي چې شعر یو هنر هنر نه دی، خو په دې نه پوهېږم چې د علم او هنر ترمینځ پوله به څنګه شي وي؟ یا تېر شوه دا خبره چې شعر یو هنر علم دی که نه دی؟ که زه ادعا وکړم چې شعر یو هنر علم دی، نو لوستونکي به مې له ګرېوانه څخه ونیسي چې راځه ادعا دې ثابته کړه. نو مجبور یم چې علم الشعر له یو بل منل شوي علم سره پرتله کړم او خپله ادعا ثابته کړم.

خبره په منل شوي علم کې ده. خبره پوهېږو چې فزیک، کیمیا،

بیولوژي او داسې نور طبیعي پوهنې علمونه دي . خو ټولنپوهنه، تاریخ، ژبپوهنه، ټولنیزه بشرپوهنه او دغه ډول نورې پوهنې چې له طبیعت سره نه، بلکې له ټولنې سره اړیکې لري، علمونه دي که نه دي؟ ټولنیزې پوهنې که علمونه وي یا نه وي، زه کولای شم شعرپوهنه ورسره پرتله کړم.

ټولنپوهنه را اخلو . د ټولنپوهنې موضوع او مواد (ډیټا) یعنې انساني ټولنې او ټولنیزې مؤسسې د انسان له ذهن څخه بهر په عیني توګه موجودې دي . ټولنپوه یې مشاهده کوي، نمونې یې راغونډوي، تحلیل او تجزیه کوي یې او کلي نتیجې ورڅخه راباسي.

شعر هم د انسان له ذهن څخه بهر په عیني توګه وجود لري . شعرپوه کولای شي چې مشاهده یې کړي، نمونې یې راټولې کړي، تحلیل او تجزیه یې کړي او کلي نتیجې ورڅخه راوباسي .

نو که ټولنپوهنه د ټولنپوه له ادعا سره سمه علم وي، شعرپوهنه هم علم دی . خو له بده مرغه زیاتره شعرپوهانو، د ارسطو په شمول، د شعر پر ماهیت باندې اساسي غور نه دی کړی شعر یې د نورو هنرونو ترسیوری لاندې څېړلی دی . ارسطو هنرونه د هرڅانګړی هنر د بیان د وسیلې د ماهیت پر بنا سره بېلوي . نقاشي د نور او رنګونو هنر ، موسیقي زغیزو هنر ، معماري او مجسمه جوړونه د کتلې یې جسمونو هنر او نڅا د حرکاتو او اشاروهنر دی . د دغه هنرونو څو بنیادي توپیرونه سره لري چې درې یې دېر مهم دي : لومړی د هغو وسایلو توپیر دی چې دغه هنرونه یې د بیان او افادې لپاره په کار وړي .

دویم ، د پیغام د رلو ډلو توپیر دی چې ځینې یې ، لکه شعر تل او په بشپړه توګه لري ، ځینې یې لکه موسیقي کله یې لري او کله یې نه لري ؟

ځيني يې لکه معماري هيڅ نه لري (مګر په نادرو حالاتو کې لکه د آتن د پرسبتق برمنډې). درېيم توپير دادی چې دغه وسيلې دانځور (تصوير) دجوړولو دتوانمندۍ او د عاطفي اغېزې د شدت په لحاظ يې لري.

دشعر دبيان وسيله د کلمو ترکيبونه دي. کلمې داسې نه غيرسمبولونه دي چې هرو مرو وضعي او مجازي معناوې او فرهنګي مصداقونه لري. ژبه د دغو سمبولونو فرهنګي، ټولنيز نظام دی چې د ترکيب او تنظيم ټاکلي قواعد او جوړښت لري. دنورو هنرونو وسيلې داسې نه دي. غير ټولنيز، غير فرهنګي، بېمعنا، فزيکي، طبيعي شيان دي. «شعر د هر بل شي په شان شکل او محتوا لري. شکل يې د وينا وزن دی او د همدې وزن له امله له کيسې او موسيقۍ سره توپير لري. شعر موزونه وينا ده، کيسه بې وزنه وينا، موسيقي يې وينا وزن دی.»(۱) کولريج وايي چې شعر د شديدو عواطفو نابېره فوران دی. په دې کې شک نشته چې موسيقي خورا زورور عاطفي اغېزه لري، خو دنورو عواطفو په بيانولو کې شعر ته رسېدلی نه شي. بوسېره پر دې، بېلابېل هنرونه د جلاجلا حواسو په وسيله درک کېږي. موسيقي د اورېدلو حاسې، نقاشي دليدلو حاسې، خو شعر داورېدلو او ليدلو له حواسو سره درک کېږي. له دې امله که څه هم شعر له نورو هنرونو سره ځينې مشترکات لري، ځينې مهم توپيرونه هم ورسره لري او نه شي کېدای چې له نورو هنرونو، مثلاً موسيقي، نقاشي يا معمارۍ سره يې کټ مټ يو شان وګڼو.

د منطق ځينې پوهان لکه ارسطو او دهغه پيروان، لکه

(۱) دوکتور اج. آريان پور، جامعه شناسي هنر، کابل، ۱۳۴٦، ص ۷٦.

خواجه نصیر طوسي او ابن سینا دشعر د منطقي حدودو او د بنځو منطقي کلیاتو په چوکاټ کې تعریفوي او دعباراتو په لږ څه تحریف او تغییر وایي چې شعر مخیل کلام دی. دغه ډول تعریفونه، له دې امله چې عام کلیت لري د معرَّف ټول ځانګړي خصلتونه او جزئیات احتوا کولای شي. له دې تعریف څخه زیات یا کم دونیم نده کاله تیرېږي او مونږ لا تراوسه د خپل ذهن ګریوان ددې تعریف له منګولو څخه خلاصول نه شو. دساینس په ډګر کې پوهانو له دې محدودیت څخه ځانونه ایستلي دي او کله چې خپله موضوع تعریفوي دهغې ټولې ځانګړتیاوې په عیني توګه ازمويي او هغه ټول فهرستوي او دې ډول تعریف ته Operational defination یا عملیاتي تعریف وايي.

دارسطو دغه تعریف هم ډول مخیّل کلام، که وزن (ایقاع-ریتم) ولري یا یې و نه لري، شعر بولي. ارسطو دخپل منطق د قواعدو پربنا نشو ای کولای چې وزن ته په خپل تعریف کې ځای ورکړي. ښایي له همدې امله نورو پوهانو دارسطو تعریف بشپړ کړی او شعر یې مخیّل او موزون کلام بللی دی. خو سره له دې هم اکثر شعر پوهان یوازې دشعر په مخیلتوب باندې ټینګار کوي او وزن دشعر له لوازمو څخه نه ګڼي. زه غواړم په دې برخه کې ځینو ټکو ته اشاره وکړم. لومړی عامه ذهنیت راخلو:

څو مره چې ماته څرګنده ده که دنړۍ د ټولنو عامه خلکو ته سری دشعر (دهغوی په ژبه چې هره اصطلاح ورته یاده شوې ده) نوم واخلي، موزون کلام ورته تداعي کیږي. بله موضوع دشعر تاریخ دی

د نړۍ په هغو ټولنو کې چې لرغونی شعر لري او لیکلي اسناد یې پاتې دي، شعر ونه یې یو ډول وزن (ریتم، ایقاع) لري او همدغه ډول وینا یې د شعر په نامه خوندي کړې دي. د شعر د بې وزنه خبره اصلاً له اروپا څخه، د ارسطو له وینا او د یورپ د اتلسمې پېړۍ له ځینو شاعرانو څخه را مینځ ته شوې ده. په اروپا کې هم تر ۱۸ میلادي پېړۍ مخکې داسې کومه بېلګه ماته نه ده معلومه چې کوم شاعر د خپلو منثورو او هنري لیکنو کوم دېوان د شعر په نوم یاد کړی او خلکو ته یې وړاندې کړی وي. په ۱۸ مه پېړۍ کې ځینو شاعرانو ښکلې منثورې هنري ټوټې ولیکلې او ادعا یې وکړه چې موږ شعر ویلی دی. دا د موزون شعر په مقابل کې چې د دوی په عقیده د قوانینو رعایت کول یې د شاعرانو د آزاد بیان مخه نیسي، یو عصیان و. ځینو پوهانو د دغه بغاوت ټولنیز او رواني علتونه څېړلي دي. دوی مثلاً ویلي دي چې وزن په شعر کې د بهرني طبیعت او د انسان د خپل بدن د حرکاتو د طبیعي ریتم انعکاس دی. د نورمال انسان د زړه ضربان د ټکا مونه او په طبیعت کې له باد څخه د ونو او بوټو د څانګو حرکتونه ریتمیک دي. د سندر بولو مرغانو لکه بلبله، عندلیب، کنیزې او نورو سندرې ایقاع (عروضي وزن) او ریتم (سیلابي وزن) دواړه لري، ناشونې نه ده چې شیلي شاعر په عندلیب تشبیه کوي. دوی په دې خبره هم ټینګار کوي چې په شعر کې وزن یو ټولنیز ضرورت هم دی. انسان کله کله غواړي چې ترنم وکړي. له همدې مطالعو نکې وینایي ترنم څخه شعر جوړ یږي. شعر یوازې د شاعر د احساس بیان نه دی، د هغو نورو کسانو د احساسونو بیان هم دی چې له شاعر سره یې په ځه ناځه شریک دي، خو شعر نه شي ویلای.

دغه کسان غواړي چې له شاعرس یو ځای د له یېز ترنم وکړي. د کورس په شان ترنم وکړي. د فرانسې د اتلسمې پېړۍ شاعران له خلکو، له ټولنې څخه بېګانه شوي وو. دوی داسې فکر کاوه چې خلک دوی سره له دي، د دوی په افکارو او عواطفو باندې نه پوهېږي او دوی یې تجرید کړي دي. نو له خپل ځان سره یوازې کښېناستل او داسې بې وزنه شعرونه یې ووېل چې د دله ییز ترنم (حتی فردي ترنم) له فیضه خالي وو. دغه ډول شعرونه او احساسات او عواطف یا د طبیعي مناظرو صفه وصفونه چې په رومانونو په ډېر ماهرانه او ښکلي انداز سره راغلي وو، په ختیزو ژبو ترجمه شول او په دې توګه بې وزنه شعر زموږ د ادب قلمرو ته هم راننوت. زموږ ځینې مقلدین وایي چې موږ له نړۍ سره سیالي کوو، نړیوال شعر لیکو. بې وزنه شعر په دنیا کې منل شوی دی، موږ یې هم لیکو. زه د دوی مخه نه نیسم، ځکه چې نه حق لرم او نه یې نیولی شم. خو زما زړه ته دا ارمان راولوېږي چې کشکې موږ هم د نورې نړۍ په شان فرهنګي، سیاسي، اقتصادي حالت درلودای! کشکې په موږ کې هم د علم، تکنالوجۍ او تولید سطحه خولا پورته وه، د ساده سواد سطحه په نړۍ کې د یوې ښېګڼې ودې یا ټولنې په اندازه وای! کشکې زموږ د ولس نفوس دومره زیات وای او زموږ په ژبه کې دومره علمي او هنري ذخیره وای او زموږ تولیدات دومره وای چې د نړۍ خلکو موږ ته څراهیتیا لرلای او زموږ په ژبه پوهېدلای چې موږ د نړۍ ټولو خلکو ته د دوی په دود او سویه شعر ویلای او سیالي مو ورسره کولای! زموږ ټولنه ترلې ده، موږ اوس د نړۍ په خلکو کې نه حسابېږو او له جهان او د جهان

له خلکو څخه وړند . ورو لا پسې لیرې کېږو . د نړۍ په نورو هیوادونو کې چې بې وزنه شعر پیدا شوی او منل شوی دی ، دا دهغوی داجتماعي فکري ، علمي ، اقتصادي ، سیاسي او نورو ملي او بین المللي مناسباتو زیږنده ده ، له شاعر څخه پرته اولس یې هم غواړي ، لولي یې او خوند ترې اخلي . بنا یې له هغه نه دفاع هم کوي . پوښتنه دا ده چې زموږ په ولس کې څو فیصده خلک سوادلري او شعر او کتاب لولي . څو کسه پېژني چې ارسطو ، افلاتون او نورو دشعر په باب دا یا هغه خبره کړې ده؟ دچا بې وزنه شعر خوښېږي . نه یوازې دشعروزن بلکه دښکلا بیژن احساس او له هنرونو څخه د خوند اخیستلو سویه او کیفیت ، زما په نظر فرهنګي او تاریخي دي . له خاصو ټولنو سره پیوستون لري . څوک به دا خبره ومني چې زموږ اولس د بتهوفن ، دموزارت ، دچایکافسکي په موسیقۍ پوهېږي او خوند ترې اخلي؟ چا دا خبره منلې چې موسیقي بین المللي ژبه ده؟ دنړۍ دنفوسو قاطع اکثریت ، دغه اولس هم ، چې شمیر یې ملیاردونو ته رسېږي ، دموسیقۍ په بین المللي ژبه نه پوهېږي . ویل کېږي چې شعر پرته له ښکلا ، پرته له خیال څانه بل مقصد او غایه نه لري . پیغام او معنا یې مهم نه دي . زموږ په اولس کې خو څوک بې معنا شعر ته غوږ نه نیسي . زموږ دخلکو په نظر که شعر کوم رسالت ، کوم پیغام ، کوم د زړه ارمان ، کوم سوز او ګداز ونه لري ، وزن ونه لري ، هغه له سره شعر نه دی . هغه هیڅ ښکلا نه دی .

له دې خبرو څخه زما مقصد دا دی چې دشعر په باب تیوریکي څېړنې زیاتره ذهني دي او له واقعیت سره ، په زیاترو مواردو کې

سمون نه لري . د ما په نظر د شعر پېژندنه باید لومړی په هغو ډ په او هره تولنه کې په تاریخي او فرهنګي قرینو کې په عیني توګه ترسره شي او بیا دی له هغو څخه جامع نظري کلیې ، که چیرې پیدا شوای ، جوړې شي .

زه نه غواړم چې دلته شعر تعریف کړم ، خو تول پوهېږو چې شعر یو په زړه پورې ، دانسان د احتیاج وړ ، خو یو مرموز سحرآمیز او حیرانوونکې شانته هنري ، ژبنیز ذهني تخلیق دی .

شعر په خپله انسان جوړوي ، خو نه شاعر او نه شعر پوهان ورباندې پوهېږي چې دا څه ډول یوه پدیده ده . چاچې ادعا کړې د شعر په ماهیت پوهېدل ، هغه یې تعریف کړی او خصوصیات یې ښودلي دي ، نه تول شاعران ورباندې قناعت کوي او نه د شعر تول پېژندونکي . نه یوازې د شعر پېژندونکي ، بلکه په خپله شاعر هم نشي ویلای چې شعر څه شی دی ، ځکه ویل کېږي او په څه دردخوړې؟ خو شاعر خپل شعرونه وایي ، دی په خپله او نور هم څخه خوند اخلي ' خپله معنوي تنده ورباندې ماتوي .

د شعر پر ماهیت ، د هغه د پېژندنې پر دود باندې د علوم و د بېلابېلو څانګو پوهانو ، لکه فیلسوفانو ، ادبا پوهانو ، تولنپوهانو ، ښکلا پوهانو ، حتی په خپله شاعرانو بحثونه کړي دي . خو هره دله د خپل تخصص د ډګر ، موضوع او اهدافو په چوکاټ کې ورباندې غږېدلې ده . دغه بحثونه ډېر په زړه پورې دي . د نورو متفکرانو او پوهانو له خوا ورباندې بحثونه شوي ، منل شوي یا رد شوي دي .

د شعر پوهنې په بحثونو کې د شعر د منشاء او د شعر د هدف ـ

مسأله هم مهمه ده چې د پر بحث نه وو باندې شوي دي. خو زياتره هغه مهم آثار چې پر دې موضوعاتو باندې ليکل شوي دي دغربي پوهانو له خوا او غربي ژبو کې دي او بيا په غربي ترعه کې له يوې ژبې څخه پر نورو ژبو ژباړل شوي دي. په عربي، ترکي او فارسي ژبو کې هم ځينې آثار پر دغو موضوعاتو باندې شته. خوله بده مرغه په پښتو کې د شعر پوهنې پر موضوعاتو باندې دومره کم آثار ليکل يا ژباړل شوي دي چې دګوتو شمېر ته هم نه رسېږي. څو محدودې مقالې او رسالې چې ليکلې شوې دي دومره نيمګړې او سطحي دي چې د شعر د شاګردانو او نورو لوستونکو د علمي کنجکاوۍ تنده نه شي ماتولای.

د روهي صاحب د غه رساله، چې موږ او تاسې يې لولو، په پښتو کې له لومړنيو آثارو څخه دي چې د شعر په واحده موضوع باندې په زيات اړخيزه او ژوره توګه بحث کوي. ددغه د څېړنې دود تحقيقي-تأملي دی. د پوهانو نظريې را اخلي، تحليلوي يې، ور باندې قضاوت کوي او خپلې تجربې او نظريې په صراحت سره بيانوي.

رساله پر ۹ . داسې مقالو (توکونو) مشتمله ده چې د شعر په باب ځينې مهمې موضوعګانې، لکه شعر پېژندنه، شعريت يعنې څه؟ نثر او شعر، شعر او د نوښت مسأله، شاعر د شاعر په توګه، د شاعر قلمرو او ادبي انډ نښت احتوا کوي.

د رسالې له لوستلو څخه جوتېږي چې مؤلف، د شعر د ماهيت او ورسره د مربوطو موضوعګانو په باب ځانته خپل نظريات هم لري او د غه نظر سرتر پايه يوه نه خوځي او په ثابته توګه پرمخ ځي، دا خبره تر زياته اندازې پورې رسالې ته کليت او د ده نظر ته وحدت وربخښي.

زه نه غواړم چې د مقدمه لیکونکو له دود او عادت سره سم د دې رسالې مهم ټکي تشریح کړم ، لنډیز یې بیان کړم یا کره کتنه او قضاوت ورباندې وکړم . لوستونکي دې په خپله د غه رساله ولولي او قضاوت دې ور باندې وکړي . خو دومره وایم چې که دغه رساله چاپ شي د پښتو ژبې په څېړنیزو او تاملي آثارو کې به یو په زړه پورې او غنیمت اثر وي . دا رساله لوستونکو ته جوتوي چې د شعر څېړنه یوه گړانه او پېچلې مسأله ده . د مؤلف په نظر په شعر پوهنه کې یوه مهمه مسأله د شعر د غرض او رسالت مسأله ده . له شعر څخه د سیاسي یا عقیدتي بهره بردارۍ موضوع او شاعر مجبورول چې باید څنګه او د څه له پاره شعر ووایي او شعر باید څنګه وي او دا مسأله چې شعر څه شی دی ، شاعر څوک دی ، څنګه او د څه له پاره شعر وایي ؟

له بده مرغه د ټولنیزو علومو په څېړنو کې له لرغونو زمانو ټر اوسه پورې د څېړونکو نظر ، عقیده او قضاوت دخل سوی دی . د شلمې پېړۍ له پیل څخه دغه مرض وبایي او مزمن شکل غوره کړی دی . له همدې امله د ټولنیزو علومو د څېړندود (میتود) پر علمیتوب باندې شک را مینځ ته شوی دی . د دې رسالې مؤلف دغې مسالې ته په صراحت سره گوته نیسي او درنه وېلیک ، په شان د شعر پوهنې په تجویزي (دستوري) او تشریحي دو دونو باندې ، چې لومړنی مردود او دویم مرغوب دی ، بحث کوي . خو دا خبره باید هېره نه کړو چې د سړې جګړې په بحراني او اوږده بهیر کې دواړه نظریې هم یوه له بلې سره جنګېدلې او اوس هم جنګېږي . تجویزي ادبپوهانو به ویل

چې توصيفي (تشريحي) ادبيو هغه ته له تجزيې ادبي هڅې سره مخالفت
کوي چې نه غواړي د سرمايه دارۍ د نړۍ استثماري - استعماري خصلتونه
بربنډ کړي. نو ځکه وايي چې بشر کوم ټولنيز «انتقامي» غرض او
هدف نه لري، بلکې د شعر هدف په خپله شعر دی. دوی به ويل چې
دغه خبره که په شکل کې تشريحي برېښي، په محتوا کې تجزيزي او
تبليغي ده. دوی هم وايي چې شعر بايد داسې نوي او داسې دې
وي. شعر دې تبليغ نه کوي او تشريح دې کوي. دوهي صاحب په دې
برخه کې بين البين او اعتدالي موقف لري او وايي کېدای شي چې په
شعر کې بشر خواهانه او هومانيستي فکرونه او ارمانونه انعکاس عمومي،
نه مطلق حزبي - عقيدتي ارمانونه. دلې خبرې زما په نظر د مقلدو
غير شاعرو ناظمانو له پاره به شه ناخه کټه ولري، خوشاعر ته
څوک پند او کوډلای نه شي، هغه داسې يو سرتمبه او باغي موجود
دی چې د خپل زړه خبره کوي. نه د دروغ وايي، نه چاپلوسي کوي،
نه غندنه کوي، نه تبليغ کوي او نه تشريح. هغه خپل احساس بيانوي،
حيرت نه خرابوي چې د چا خوښېږي او که د چا نه خوښېږي، د چا په
ګټه تماميږي او د چا په تاوان. شاعر له چا نه عبرت نه اخلي.
نور دې له هغه نه عبرت واخلي. دغه عبرت اخيستل شوی هم دی.
د ځينو شاعرانو خولې په مرغلرو ډکې شوې او د ځينو خولې په
تار اوستن ګنډل شوې دي؟ حتی د منصور په شان په دار هم
ځوړول شوي دي!

ماته چې جوته شوې هم انسان ارمانونه لري او له خپلو ارمانونو
او هيلو سره ژوند کوي. شاعر هم انسان دی او خپل ارمانونه او

هیلې لري. خو دی د خپلو هیلو او ارمانونو د شمېر لپاره پښتو نګ دی، شاعر وايي:

دافغان په ننګ مې وتړله توره
ننګیالی د زمانې خوشحال خټک یم!

شاعر دیهودي شایلاک ډرامه لیکي. شاعر وايي:

شهرت د عقل له نامه د افلاطون نه، نځي
دآزادۍ مینه هیڅکله له پښتون نه، نځي

افسوس چې ماسره د شاعرانو دیوانونه او هیڅ ډول کتاب نشته چې نور په زړه پورې د دغه ډول مثالونه مې را وړي وای.

شاعر زما په نظر دوه ډوله ارمانونه لري: د ټولنیز هستوګنې ارمان او د خپل شاهي ژوند د جوړونې ارمان. نو خپله دنیا ښکلې کوي او په خپل خیال کې پکې ژوند کوي. که کله دغه دنیا د ده شخصي دنیا نه وي، د دنیاوالو ښکلې دنیا وي.

ښه به داوي چې شاعر ته ونه وایو چې څه او څنګه ووايي. پرېږدو هرڅه چې لې زړه غواړي ودې وايي. څوک چې په رښتیا شاعر وي، شکسپیر وي، خوشحال وي، الفت وي، ګویټه وي، حافظ وي، ایلیټ نو ایلیټ، شعر وايي.

پوهاند ډاکټر محمد رحیم الهام
د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پخوانی استاد
د افغانستان د علومو اکاډمۍ د اکاډیمسین کاندید
پېښاور، ۱۹۹۶ د جنوري ۲۶

د شعر پېژندنه

ځيني ادبپوهان وايي چې شعر څوک نشي تعريفولی، هماغسې چې ښکلا او حقيقت د پېژندو وړ نه دي، هماغسې چې خوند، رنګ او د کيفيت جهان د تعريف په تنګ چوکاټ کې نه ځايېږي، شعر هم د ښکلا او احساس له جهان سره اړه لري، د فورمول قالب ته ځان نه سپاري لیکن دا يو ازښت دليل نه دی، له دې نه بل مهم دليل هم شته او هغه دا چې هر شعر د يو شاعر د تخيل زېږنده دی او هر شاعر له ژوند نه، له طبيعي او ټولنيز چاپېريال نه د ځان له پاره ځانګړی برداشت لري. د چا له پاره شعر وسيله ده او د چا په نظر شعر پخپله هدف دی. څوک وايي چې شعر بايد کمټمنټ ولري او ټولنيز رسالت ولري، او ځيني نور له دې خبرې سره مخالفت کوي او وايي چې شعر بايد تلپاتې ارزښت ولري، د يوې ډلې يا فرقې د ګټو او د يوه سياسي رژيم د تبليغاتو وسيله و نه ګرځي.

د دغې ورو ستې ډلې ادبپوهانو په نظر شعر زموږ په ترڅنه او
بې خونده ژوند کې خوند پیدا کوي ، د خوشیبو له پاره خلک له
ترخو واقعیتو نو څخه د احساس ، عاطفې ، تخیل او ښکلا نړۍ ته رابولي ،
عواطف یې تصفیه کوي ، له زړونو څخه یې د یکنواختۍ او ابتذال رنګ
لرې کوي او دردونو ته یې څه تسکین ورکوي . د دوی په پوهه
شعر د دښمنه او کرکې د خورولو وسیله نه ده او نه د سوداګرۍ مال
دی ، بلکې مقصد یې د ښکلا بیان دی ، د احساس لپږ دونه ده ، د
یکنواخته میخانیکي ژوند پر ضد طغیان دی ، د ارمانی ژوند
انځوردی او په ساحرانه الفاظو سره د احساس اظهار وه ده ، د نیم بسمل
مرغه نغمه ده ، موزیکال فکر دی ، روحاني الهام او شهود دی ،
د هنر د آلهي پیغام دی او بالاخره شعر ، شعر دی .
د شعر د تعریف په باب یو بله ستونزه دا ده چې ځینې شعر په تشریحي
توګه او ځینې نور یې په تجویزي توګه تعریفوي ، تشریحي تعریف
د ویل شویو شعرونو له مجموعې نه د شعر خصوصیات او ماهیت راوباسي
په داسې حال کې چې تجویزي (دستوري) تعریف له مخکې نه د شعر
له پاره هدف ټاکي ، شرطونه ورته وضع کوي او شاعر ته دستور ورکوي
چې له همانه ټاکلي هدف سره سم شعر ووایي . یا په بله ژبه تشریحي
میتود وایي چې شعر څنګه دی او تجویزي (یا توصیوي) میتود وایي چې
شعر باید څنګه وي ؟
که څه هم د شعر پېژندنې په باب خبرې کیږي ، نو اکثر ادبپوهان
خبرې له ارسطو نه راپیلوي ، ځکه چې د غه ستر یوناني فیلسوف
د شعر په باره کې د پوتیکا په نامه ځانګړې رساله لیکلې ده او په

او په ځینې [illegible] د شعر په باب ځینې اساسي ټکي بیان کړي دي. دارسطو په نظر [illegible] ویناده چې په زړه کې هیجان پیدا کړي)(۱)

ارسطو د خپل وخت یو کتاب چې د طبیعي علومو په برخه کې په نظم لیکل شوی و، شعر ونه گاڼه ځکه چې هیجان راوړونکی نه و. له دې څخه ښکاري چې د ده په نظر، هیجان او عاطفه د شعر اساسي توک دی او هر نظم ته شعر نه ویل کېږي. ځکه چې یوناني شعر قافیه نه درلوده، نو موزون کلام په واقعیت کې سندرو ویناته ویل کېده. په دې حساب علمي مفکوره او د وزن لرونکي نثر ته د شعر اصلي توکونه گڼل کېږي.

د منطق پوهانو په عقیده شعر مخیل کلام دی او په دې اساس تخیل د شعر بنیا دي عنصر گڼل کېږي. (ابن سینا) په دې باره کې داسې وایي: «ان الشعر هو کلام مخیل مؤلف من اقوال موزونه متساویه و عند العرب مقفا ... ولا نظر المنطقی فی شیء من ذلک الا فی کونه کلاماً مخیلاً ... وانما ینظر المنطقی فی الشعر من حیث هو مخیل» (۲)

خواجه نصیر طوسي په خپل اثر (معیار الاشعار) کې وایي: «تخیل را حکمای یونان از فصول شعر دانند و شعرای عرب و عجم از اسباب حدوث او میشمرند» (۳)

[illegible] منطق پوهانو له پورتنیو یادونو څخه باید داسې نتیجه واخیستله شي چې گویا نوکاله مخکې هم بې وزنه یعنې آزاد شعر موجود و. منطقي وایي چې که څه هم شعر موزون کلام دی او په عربي ژبه کې قافیه وال هم دی، خو د ده په نظر د دغه شیان (وزن او قافیه) په شعر کې ټاکونکی نقش نه لري، بلکې یوازې تخیل اعتبار لري، که په وینا کې خیال (ایماژ، ذهني انځور) نه وي نو هغه شعر

نه دی. هغه څه چې موږ یې آزاد شعر بولو په ساینس کې د بې وزنه له مفکورې سره یو ځای وزېږېد. که ساینس بې وزنه شاعر منلای شي، نو ادبیات هم بې وزنه شعر جوړولای شي. که چیرې مونږ د هنر په تاریخ کې د سکرونېزم - همزمانه نظر و منو نو دا په ډاګه لیدل کېږي چې په شعر کې وزن د باداری له مقام نه وروو - وروراټیټ شوی دی او ځینو خو بېخي شړلی دی. د سکرونېزم په زمانه کې یعنې هغه وخت چې شاعر به هم سندرې ویلې او هم به یې نڅا ورسره کوله د شعر معنا ته دومره پاملرنه نه کېده، لکه څومره چې له ریتم (آهنګ) څخه خوندا خیستل کېده. سکرونېزم لا اوس هم په ځینو قبیلو کې شته، هلته څوک د شاعر او سندرغاړي ترمینځ توپیر نه کوي. ویل کېږي چې د عربي ژبې د شعر کلمه هم د عبراني ژبې له شیر څخه اخیستل شوې ده چې په اصل کې د ، سندرې په معنا ده. وروسته لکه څنګه چې د علومو څانګې یو له بله جلا شوې په هنر کې هم څانګې یو څه سره بېلې شوې، لکه شعر، سندره (په غاړه ویل) نڅا ، موسیقي او نور چې د بېلا بېلو څانګو په حیث پېژندل کېږي. سره له دې باید و وایو چې د هنر څانګې یو له بله نږدې دي او ځینې یې خو پوره خپلواکي نه لري. د مثال په توګه نڅا موسیقي ته اړتیا لري او له شعر څخه چاره نه لري (البته که څوک یې پوله کډ ېږي او یا یې محتوی سندرې وایي، نو هغه بېله خبره ده).

اوس به خپلې خبرې راټولې کړو: د مو ویل چې شعر پخوا په غاړه ویل کېده او وزن یې درلود، خو وروسته د ځینو ادیبانو په نظر دغه دواړه عارضي او فرعي وګڼل شول. که داسې وي، نو د

شعریت معیار څه شی دی؟

کوم وخت چې موږ په تېرو ټولګیو کې وو د شعر تعریف مو داسې اورېدلی و: شعر هغه وینا ده چې وزن او قافیه ولري، خو اوس چې د شعر په باب څېړنې کوو د هغو په نتیجه کې داسې تعریف استنباط کولای شو: شعر یو ډول آهنګواله وینا ده چې پر عواطفو باندې اغېزه کوي، طبیعي ده چې اغېزه باید خوندوره وي، که نه نو هرې اغېزې ته شعر نه شو ویلای.

د یو شمېر ادیبانو په نظر په شعر او په عام ډول په هنر کې د بیا جوړونې او تخیل عملیه تر ټولو مهمه ده. د مثال په توګه که څوک پر مړي باندې ساندې وايي او د اورېدونکي پر عاطفه باندې اغېزه کوي دا واقعي شعر نه دی، ځکه چې له واقعیت سره نېغ په نېغه اړیکي لري خو که څوک د ستېج پر سر نوموړې واقعه تمثیل کړي او د ساندو په ذریعه په اورېدونکي کې تاثیر پیدا کړي، نو دغه ساندې شاعرانه هویت پیدا کوي. یا په بله ژبه که چا ته له یوې واقعي پېښې نه مستقیماً تاثیر پیدا شي، نو دا هنر نه دی، خو که نوموړې پېښه په الفاظو، تمثیل یا تصویر سره له سره ونیول شي نو دې ته هنر ویل کېږي.

(تولستوی) وايي که چېرې څوک لېوه په سترګو ووینې او ترې وډار شي دا هنر نه دی، خو که د هغه شخص چې لېوه یې لیدلی وي په اورېدونکو کې د نوموړې واقعې په بیانولو سره وېره او ترس ایجاد کړي د هغه عمل ته هنر ویل کېږي له همدې امله ځینو ادیبانو د تقلید او زیاتو ادیبانو د تخیل او تصویر پر عنصر زیات ټینګار کړی دی.

د معاصر شعر تر ټولو اساسي مقولې تخييل، انځور (ايماژ، تصوير) عاطفه (احساس، هيجان) ښکلا او آهنګ (ريتم) دي. اوس به د ځينو لوستونکو د استفادې له پاره هره مقوله په لنډه توګه توضيح کړو:

تخييل (چې زيات د تخيل په نوم شهرت لري) په مختلفو عبارتونو تعريف شوی دی. که په ساده ژبه ووايو تخييل د دغو ذهني تصويرونو يا مفهومونو د جوړولو عمليه ده چې مخکې په واقعيت کې موجود نه وي. په تخيل کې انالوجي (د مشابهتونو له لارې د شيانو يا پېښو پېژندنه) زيات اهميت لري. په شاعرانه تخيل کې د داسې شيانو تر منځ اړيکې ټينګېږي چې عقلاني او منطقي نه ښکاري، لکه: د عقل لاس، د شفق سور ګريوان، ستړې ارزوګانې، متحرک جسد ونه او داسې نور. د تخيل له پاره دا لاندې بيت ولولئ:

ستا په انګړ کې د حمزه د وينو سره دي
نه شوې د پښتو غزله ځوان نه دې باباکړم

البته له دغه بيت څخه هغه څوک پوره خوند اخلي چې د حمزه د لقب (بابای غزل) يا (د غزل پلار) نه خبر وي او که څوک له دغه رمز نه خبر نه وي نو د پوره تيږ بيت ښکلا او نازکخيالي نه شي درک کولی.
زه غواړم د لته يو بل تکي ته هم اشاره وکړم او هغه دا چې په نوموړي بيت کې له شاعرانه منطق څخه کار اخيستل شوی دی او علمي منطق نه پکې چلېږي. له همدې امله يو چا د شعر په باب ويلي وو:
«معقول به نه وي خو ښکلی دی. آيا همدغه کفايت نه کوي؟»
تصوير يا ذهني انځور د شعر بل مهم توک دی. تصوير

په عاطفي توکه د ېوې تجربې د انتقال او ښودنې وسيله ده. د تصوير په وسيله د دوو يا څو متجانسو شيانو ترمنځ اړيکې ټينګيږي او له همدې امله د تصوير جوړولو قدرت ترډيرې اندازې همغه د تخيل قدرت دی. تصوير معمولاً د تشبيه، استعارې، سمبول او اسطورې په بڼه کې ځان څرګندوي. ځينې تصويرونه مقيد او ځينې آزاد دي. مقيد تصويرونه د تکرار له لارې د يو توليز قرارداد سطحې ته رسيدلي دي. د مثال په توګه، نرګس د سترګو، بنفشه د زلفو او سرو د قد مفهوم څرګندوي. آزاد تصويرونه کيدای شي له يوې نه زياتې معناګانې افاده کړي.

عاطفه له ساينسي څخه د شعر د بېلولو عمده مشخصه ده. علامه اقبال (رح) وايي:

حق اګر سوزی ندارد حکمت است
شعر میګردد چو سوز از دل ګرفت

واقعيت هغه وخت شاعرانه بڼه پيدا کوي چې د عواطفو او جذباتو ورانګې پرې ولويږي.

ښکلا د شعر يو بل مهم توک دی. د رومانتسيزم مکتبيانو ښکلا او کټه ور بل ضد ګڼل هغوی ته په خاصو شرايطو کې دا مفکوره پيدا شوې وه او سنی ذهنيت دا دی چې شعر بايد حتماً ښکلی وي او که ګټور وي لا ښه. خو دا د يو شمېر هغو نظر ګټورتوب د شعر ذاتي توک نه دی. کيدای شي چې يو شعر دې ښکلی وي ګټور دې نه وي، اما که شعر ښکلی نه وي نو هغه شعر نه دی.

او س به راشو د آهنګ موضوع ته. په دې وروستيو وختو

کې د آزاد شعر د رواجېدلو له امله داسې فکورېږي مینځ ته راغله چې گویا وزن یا آهنگ د شعریت اصلي معیار نه دی، ځکه منثور شعرونه او آزاد شعرونه وزن نه لري. ځینې ادبپوهان له دې خبرې سره موافقه نه کوي، ځکه د هغوی په نظر آزاد شعر هم یو ډول موسیقیت او آهنگ لري. د آزاد شعر او نظم تر مینځ توپیر دا دی چې د آزاد شعر آهنگ دیوې ټاکلې قاعدې تابع نه دی، په داسې حال کې چې منظوم (دوديز) شعر ټاکلی وزن لري او په ځینو ژبو (لکه عربي، پارسي، پښتو او نورو) کې قافیه هم لري. ځینې ادبپوهان وزن یا آهنگ د شعر اصلي او لازمي توک نه گڼي او آزاد شعر په رسمیت نه پېژني. له دې څخه جوتېږي چې د شعر په تعریف کې د پوهانو تر مینځ عمومي موافقه نشته. ځینې داسې کسان هم پیداکېږي چې تعهد (ژمنه، التزام) د شعر ذاتي توک گڼي، خو اکثر ادبپوهان تعهد او اخلاقي یا سیاسي مسایل د شعر ذاتي توک نه بولي.

د مقالې په پای کې د دې ټکي یادونه لازمه بولم چې زه پخپله په شعر کې دیو پراخ هیومانېزم ملګرتیا کوم. زموږ په ټولنه کې له بده مرغه د تعهد او همدارنګه د ریالېزم له اصطلاحگانو څخه ځینو کسانو ناوړه ګټې واخیستې. د تعهد پلویانو چې پخپله هم چندانې متعهد نه وو، له دغې کلمې څخه د تهدید او وېرولو له پاره کار اخیست. د ریالېزم پلویانو د واقعیت پالنې تر ماسک لاندې دومره درواغ وویل چې د خلکو زړونه یې د ریالېزم څخه تور کړل. که نن سبا د شعر په تحلیل او ارزیابۍ کې پر ټولنیز رسالت او واقعیت پالنې زیات ټینګار نه کېږي، نو را تلونکی نسلونه

PROPERTY OF ACKU 6075

دې په دې برخه کې سې سیې سایکالوجیک (نټولنیز-ارواېي) قضاوت وکـړي .

یادښتونه:

* ځینې فیلسوفان وایي چې حقیقت نه پېژندل کېږي ، ځکه چې هیڅوک د دې ضمانت نشي کولای چې د انسان یا حیوان حواس دې کټ مټ بهرني شیان په اصلي شکل درک کړي . کېدای شي چې د انسان حواس دې د تکامل په بهیر کې له نژدې کوتنو کلونو وروسته شیان په بل ډول وویني . دا یوه ژوره فلسفي موضوع ده چې جلا بحث غواړي .

(۱) دکتر پرویز ناتل خانلري ، شعر و هنر ، شرکت سهامی ایران ، چاپ ۱۳٤٥ هـ ش ، ص ژ (١٦٨) .

(۲) (صور خیال دشعر فارسي) په حواله ، ددکتور محـمد رضا شفیعي کـدکني ، تهران ، ۳٤۹ مخ ۳۰ .

(۳) همدغه اثر ، مخ (۳۰)

** وزن د عربي او دري شعر و نو لپاره استعمالېږي او دعروض دعلم مقوله ده ، په دغو ژبو کې لنډ (هجاء سلیبل) او اوږده څپه عمده نقش لري . پښتو شعر څپه ییز خجین (سیلا بوتونیک) دی ، اد داروپایي ژبو دشعر له آهنګ سره نږدېوالی لري . په اسلاوي او ژرمني ژبو کې خج او په فرانسوي کې دهجاوو برابر والی د آهنګ اساس ګڼل کېږي . نو دامې انګلکېږي چې وزن او آهنګ سره مترادف نه دي .

*** د آزاد شعر اصطلاح زموږ فرهنګیان زیا تره د سپین شعر له پاره استعمالوي . سپین شعر با قاعده آهنګ لري چې دخج په اساس تاکلکېږي . دغه ډول شعر قافیه نه لري . آزاد شعر آهنګ او قافیه نه لري ، لیکن یو ډول موسیقیت یا غیر منظم آهنګ پکې شته .

شعريت يعني څه؟

دځينو شعرونو په باره کې کله کله داخبره اوريدل کيږي چې (شعريت نه لري) د دې خبرې معنا دا ده چې دغسې شعرونه تش په نوم شعرونه دي، شکل او کالبد يې شعر ته ورته دی، خو دشعر جوهر پکې نشته.

که د يو سړي په باره کې و ويل شي چې (سړيتوب نه لري) موږ په اسانه سره پوهيداى شو چې هغه د سړيتوب د پاره د وضع شوو نورموو پيروي نه کوي او په اخلاقي لحاظ کمزوری دی. د اسې ښکاري چې د سړيتوب معيار د نورماتيف اخلاقو رعايت دی.

اما د شعريت معيار څه شی دی؟ د شعريت معيار بايد هغه څه وي چې د هغه په نشتوالي کې شعر په (معر) بدليږي. ويل کيږي چې (معر) يو مهمل او پوچ لفظ دی (پوچ په دې مانا چې معنوي بار نه لري).

د شعريت د معيار مسأله تر يوه پيچلې ده. تر ټولو مهم دليل يې دا دی چې د شعر د تعريف په برخه کې د ادبي هانو ترمنځ عمومي موافقه نه ليدله کيږي. تو کله چې يخپله د شعر پيژندنه (تعريف) تر پوښتنې لاندې راغلې ده، د شعريت

معیار ونه هم نشي ټاکل کېدای، سره له دې ادبي کره کتونکي د کته ستګي (د ریاضی په ژبه مشترک مخرج) د پیدا کولو له لارې کولای شي د شعر ماهیت او جوهر وپېژني. په شعر کې داسې توک (یا توکونه) شته چې ادبپوهان د هغه (یا هغو) شته والی لازم (Sine-que-non) شرط بولي.

همدغه توک یا توکونه د شعر جوهر یا نوښته تشکیلوي او د مغز نشتوالی په حقیقت کې د شعریت نشتوالی ګڼل کېږي.

داچې وایي شعر تعریفېدلای نشي، د دوه ډوله ذهنیتونو زېږنده دي. ځینې وایي چې د مختلفو او حتی متضادو تعریفونو ترمینځ د انتخاب مساله رامینځ ته کېږي. په دې صورت کې موږ یو علمي (ساینټفیک) د پوهو له خوا منل شوی، تعریف نشو وړاندې کولی.

داخبره په ننبتیا د یا ملرې وړده چې شعر له ارزښتونو سره اړه لري او ارزښتونه د فلسفې له لارې څېړل کېږي نه د ساینس له لارې. (البته هغه ساینس چې دیوې مشخصې ایډیالوجۍ تابع وي، کله کله ارزښتونو ته هم لاس ور غځوي) په عمومي ډول ارزښتونه (لکه ښه او بد، ښکلی او بدرنګ) په اکسیالوجۍ پورې اړه پیدا کوي، چې زیاتره فلسفي او نیوییتیکي بڼه لري.

د شعر تعریف نه درده کولو په برخه کې یو بل تمایل داسې دی چې د شعر هر ډول تعریف په نهایت کې میخانیکي بڼه پیدا کوي. نه غواړم له شعریت سره د ارتباط له امله په دې برخه کې یوڅه توقف وکړم او د موضوع د زیاتې روښانتیا دپاره څو مثالونه راوړم.

د ترکیې نامتو شاعر (ناظم حکمت) وایي چې شعر هغه خوش آواز مرغه ته ورته دی چې باید غوږ ورته ونیول شي او له آواز څخه یې خوند واخیستل شي. هغه کسان چې غواړي شعر تعریف او تحلیل کړي په واقعیت

کې د موعه لهغوښتو سره علاقه لري نه يوازې له آوازسره (۱).

(جان سيان دی) اش يكا يې ليكوال وايي : څوک چې آس د مسابقې دپاره ورته ور او د نښه آس دساتلو سره مينه لري هغه د آس د بيولوژيكي تعريف سره علاقه نه لري . د بيولوژي په اساس آس هغه حيوان دی چې څلور پښې لري،څلوربيت غابونه لري ، د بې لمونکو حيوانانو له ډلې څخه دی ، سوه (سمونه) يې محکم دي ، نو نعل ته اړتيا لري او داسې نور نو ، اما د سوان کار د دغو متخصصانو څخه د ځينې حرفې د پوهنتنې دپاره نښه . ابې کمه لنې ا خيستلای ، هغه داسې آس غواړي چې مسابقه وګټي ، همدغه مطلب د شعر په برخه کې هم صدق کوي . د ښه شعر ډيرلږ لپاره تحليل او کره کتنه بې کټې کاري دی ، خو د غه شيان هيڅکله د احساس ځای نه نيسي ... د احساس او تجربې څخه د تصنيف او تحليل له ت بې سره جوت توپير لري ، د (ميلاد) خلک او پر انه مطالعه کوي ، بلکې (تنفس کوي يې) (۲)

ويل کيږي چې د آلمان د نامتو شاعر گوبته ، نه غوښتنه ورته چې د خپل مشهور اثر (فاوست) ايډيا په نثر تشريح کړي ، نو هغه ددغې غوښتنې په منلو څخه معذرت وغوښت (۳).

گوبته چې د ادب له روح سره آشنا وو په دې پوهيده چې د شکل په په تغيير سره محتوی هم خپل ارزښت له لاسه ورکوي او ادبي جوهر يې له مينځه ځي .

د دغو مثالونو په پای کې به د نړی د نامتو ساينس پوه (البرټ اينشتاين) څخه يو روايت رانقل کړو . له دغه څخه چا وغوښتل چې د نسبيت تيوري په ساده او عام فهمه ژبه ورته تشريح کړي .

«انشاپور» ورته قصه وکړه چې يوه ړانده له چا نه غوښتنه وکړه چې (سپين رنګ) ورته تشريح کړي، ځکه هغه بېچاره په عمر کې سپين رنګ نه وو ليدلی. نو هغه سړي ورته وويل: «د شيدو رنګ دې ليدلی دی؟» ړانده وويل: «نه» د شيدو رنګ څنګه وي؟» ده ورته وويل: «د شيدو رنګ د قاز په شان سپين دی.» ړانده وپوښتل: «قاز څنګه وي؟» هغه سړي په خپل لاس ورته د قاز او د مړۍ تمثيل کړ، او ړانده ته يې وويل چې زما لاس لمس کړه، د قاز او مړۍ د غه شان وي) ړانده د لاس سر د لمس کولو نه وروسته ورته وويل: «نه پوه شوم چې سپين رنګ څه وي!!»

د دغو مثالونو له راوړلو څخه مقصد دا دی چې په شعر کې د شعريت ناوې خپل ځان د تعريف څخه ته نه سپاري. «جورج والی» وايي:

« د شعر د ارزيابۍ د پاره هيڅ ډول پيمانه معيار او هيڅ ډول کمي ارزښت وجود نه لري.» (۴)

دا دې کره کتونکو هغه د له چې د شعر په تعريف پسې ګرځي، د يو شمېر نامتوا ديبو هغو پر تعريفونو باندې تکيه کوي، په دغو تعريفونو کې تر زياتې اندازې د شعريت مسأله د حل کېدو په لور وړاندې کېږي دا دي يو شمېر مشهور تعريفونه:

شعر د طبيعت تقليد (يا تمثيل) دی. «ارسطو»

شاعر له حقيقت څخه دوه ځلې ليرې کېږي «افلاطون»

(پارناس) شاعر نه دی ناظم دی. «جانسن»

د شعر غرض تخيل دی. «خواجه نصير طوسی»

شعر يو فلا بي تخليق دی او شيان لکه څنګه چې دي هغسې يې نه ښيي (ناموس سيلي) نو شعر لکه په نظم کې را ځي په نثر کې هم راتلای

شي... جوهر يې اسطوره، افسانه يا شعر دی، دغه دريې واړه په يو شي کې راځي (پرسی سکاټ)

نه به د کلمو شعر هغسې تعريف کړم، لکه چې هغه د ښکلا آهنګوال تخليق وي. د هغه يوازنی قاضي ذوق دی. له عقل او وجدان سره د هغه ارتباط ضمني (فرعي) دی.

که تصادف په پام کې ونه نيسو نو شعر له وظيفې يا حقيقت سره سروکار نه لري. ((اډګارالن پو))

شعر د قوي احساس تخيلي څرګندونه ده او معمولاً آهنګواله ده ... د چوپتيا په حالت کې د قوی احساساتو د طغياني حالت راټولونه ده. « ورډز ورث »

د ساينس خاص او مستقيم هدف د حقيقت لاس ته راوړنه او انتقال دی، د شعر خاص او مستقيم هدف خوند دی... کاشکې ځوان شاعران د شعر او نثر په باره کې زما د دوستانه يادونې په ياد راوړي او هغه داچې، نثر: په بهترين شکل سره د الفاظو تنظيمول دی، او شعر: په بهترين نظم سره د بهترينو کلمو پيل دی. (ساموئيل ټيلرکولريج)

مطلق شعر په جذباتي او آهنګواله ژبه د بشري فکر مشخصه او هنري څرګندونه ده. (تيوډور واټس - ډانتن)

له دې امله به موږ شعر موزيکال فکر وګڼو. (کارلايل)

يو واقعي نظم د تجربو تسلسل دی، کله چې موږ هغه په شاعرانه توګه لولو د آوازونو، تصويرونو، فکرونو او جذباتو له معبر څخه تيريږو. (انډروبراډلي)

شعر يوه ژبه ده چې په زيات يا کم هيجاني ډول سره هغه څه وايي چې ويل

کېدای نشي . هر شعر که لوی وي که کوچنی هم دغه کار کوی .

(ایډوین ارلینګټن رابنس)

په شعر کې د لفظ معنا د هغه څه نه چې په قاموس کې يې راوړی ، پراخه ده . او د بیان قدرت یې زیات دی . (پ ګوری)

سنه شعر معنا نه لري . (ابوالمعاني بېدل)

شعر نه دی داخوناب د زخمي زړه دی

یا د تلې دستي دم د خولې د مړه دی

یا د وینو اباسین وهلی موج دی

یا له مباره د حیرت وتلی فوج دی

(حمید مومند)

ځینې خلک تصور کوي چې د شعر هدف ښوونه ده او شعر بايد چې یا له د وجدان په بشپړولو کې زیار وباسي او یا داخلاقو او ادابو ښوونه وکړي او کله هم هغه څه چې ګټور وي ، په ګوته کړي . . . .

شعر بې له خپل ځانه بل هدف نه لري او نه يې شي درلودلی .

(شارل بودلر)

شعر بايد د ثروند داړتیاوو او معیارونو تابع نکړو . دګلاب ګل څوک د دې دپاره نه خوښوي چې د هغه او به د سترګو د درمل په توګه استعمالیدے شي ، بلکې د دی د پاره يې خوښوی چې ګلاب ښکلی دی او ښکلا پخپله یو مستقل ارزښت دی . (رمي دوګورمون)

نه ، د دنیوي لمسون دپاره نه ،

د دنیوي حرص او د نیوي مبارزې دپاره نه ؛

بلکې د خوږې سندرې دپاره ، دالهام دپاره ،

د دعا د پاره دی چې شاعر دنیا ته راغلی دی.

(پوشکین)

مونږ نه غواړو چې نقاشي او مجسمه جوړونه متعهده کړو. شعر هم د نقاشۍ موسیقۍ او مجسمي جوړولو په شان دی. (ژان پل سارتر)

سل واره وایم چې هنر د هنر دپاره (ویکتور هوګو)

څه ګټه نه لري؟ ښکلی دی. آیا همدغه کفایت نه کوي؟ دګلانو په شان د عطرونو په شان، د مرغیو په شان او د هغو ټولو هغو شیانو په شان چې بشرښتي کولی په خپله خوښه هغو ته تغییر ورکړي او ضایع یې کړي. په عمومي توګه هر څه چې ګټور وي ښکلی کېدای نشي، ځکه چې ورځنۍ ژوند ته ورننوزي، شعر په نثر بدلیږي، او آزاد مریي کیږي. هُنر آزادي ده، پرتم دی، غوړېدا ده، دروغ غوړېدا ده په بطالت کې. نقاشي، مجسمه جوړونه او موسیقي مطلقاً د هیڅ شي په درد نه لګیږي، مونږ د هُنر د آزادۍ څخه ملاتړ کوو. زمونږ په نظر هُنر وسیله نه ده، بلکې غایه ده. هر هنرمند چې بې له ښکلا څخه د بل شي په باره کې فکر کوي، زمونږ په پوهه هنرمند نه دی.

(ویکتور هوګو)

شاعر اوسه حتی په نثر کې. (بودلر)

مونږ شاعران له عدم سره جنګیږو، څو هغه په هستۍ بدل کړو، د چوپتیا د روانه په سوک وهو څو یوه خواب ورکوونکې موسیقي واورو.

مونږ لایتناهی فضا په یوه لویشت کاغذ کې ځایوو،
او د زړه له دروګوتو فضانه سیلاب را باسو. (چینی سردار لوچي)

درشعر مپیچ ودر فن او * که اکذب اوست احسن او (حضرت جامی رح)

هغه شاعر چې رښتيا و يونکى نه وي مړ دی او هغه شاعر چې يوازې

دواقعيت پالونکى وي هم مړ دی. هغه شاعر چې غير منطقي وي يوازې پخپله

پوهېږي او د هغه مينه ، او دا ډېره له غمه ډکه پېښه ده، خو هغه شاعر

چې ټول منطق وي او ان سره وپوهېږي چې څه وايي هم له وحشته ډکه

خبره ده. ثابت او جاويداني احکام په شعر کې وجود نه لري. (پابلو نرودا)

د شعر هدف په ملت کې د روښنايي خپرونه ده. (اوکولت بابېيه)

ستر شاعر او په عمومي توګه لوی ليکوال هغه دی چې خپل هېواد

ته ستر خدمتونه وکړي او ډېرې ښېګڼې ورته ورسوي. (چرنيشفسکی)

هُنر او ادب بايد هغه څه ترسيم او تجسيم کړي چې اجتماعي انسان

ورسره علاقه لري او نارامه يې . (پليخانوف)

ادبيات د تصويرونو هُنر دی او په هغه کې (لغ) او تبليغاتي

افکار زيات رسوونکى دي. (لوناچارسکی)

دغه پورتني تعريفونه ځيني شاعرانه او ځيني ادب پوهنيز دي.

په ادب پوهنيزو تعريفونو کې ځيني تشريحي او ځيني توصيفي دي.

توصيفي تعريفونه ارمانيز او ايډيالوجيک دي او شاعر ته لارښوونه

کوي چې (بايد) څه ډول شعر ووايي. اما تشريحي تعريفونه فقط دغو ټکو

ته اشاره کوي چې شاعرانو څه ډول شعرونه ويلي دي او د همدغو شعرونو

په استناد يې هڅه کړې ده چې د شعر ماهيت شرح کړي. په همدغه اساس

تشريحي تعريفونه که په ټوله معنا علمي نه دي، علمي ونمه تعريفونه يې

ګڼلی شو او يا يې د علمي کولو په لاره کې يوګونښ بولو.

په يادو شويو تعريفونو کې مشترک ټکي دا دي: تخيل، جذبات

(يا احساسات) ښکلا، عواطف، خوند، مفکوره، په يوه يا بله بڼه د واقعيت

انځاره، همدغه کره کتنې د شعریت معیارونه هم کمل کېدای شي.

دقیق ادبي کره کتونکی اعتراض کولی شي چې: (۱) دا د تعریفونو بشپړه بېلګه (سامپل) نه ده.

(۲) زمونږ ادبپوهانو شعر موزون او مقفی کلام بللی دی، له دغې یو متداول تعریف نه سترګې پټې شوی دي. (۳) په نورو تعریفونو کې تر زیاتې اندازې پورې د تعهد او رسالت برخه یا په بله ژبه اخلاقي موازین له نظره غورځول شوی دي. (٤) په ځینو تعریفونو کې د شعر پر ځای شاعر یا د شعر هدف، وظیفې او یا ځینې تعریف شوی دی.

د لومړي اعتراض په ځواب کې باید وویل شي چې اکثر ادبپوهان او ادبي کره کتونکي د شعر په باره کې زیاتې خبرې کوي، خو په مستقیم ډول د شعر له تعریف نه ډډه کوي. د پورتنیو تعریفونو د موندلو له پاره ما ډېر کتابونه لټولي دي. حتی د ادبیاتو انسایکلو پیډیک قاموسونه (لکه په انګرېزي ژبه د نړۍ د ادبیاتو قاموس چې (۲۵۰) تنو ادبپوهانو یې په لیکنه کې ونډه اخیستې ده، د هرلمن د ادبیاتو قاموس او نور) او د ادبپوهنې ځیني کتابونه (لکه په انګرېزي ژبه د ادبیاتو مقدمه په (۱۳۳۱) مخونو کې، د ادب د تیورۍ اساسونه، مسایلی از فرهنګ و هنر و زبان او داسې نور) یو لنډ جامع تعریف نه ورکوي. په یوه کتاب کې (۳۵۹) مخونه د شعر پېژندنې ته وقف شوي دي، خو د شعر تعریف پکې نه دی راغلی. یو دلیل به یې داوي چې د ټولو د قبول وړ تعریف نشي وړاندې کېدای.

د دوهم اعتراض په برخه کې ویل کېدای شي چې په دې برخه کې د آهنګ کلمه کفایت کوي او همغه په تعریفونو کې راغلې ده.

د قافيې مسأله په نړيوالو ادبياتو کې تر پوښتنې لاندې ده، په تېره په انګرېزي شعر کې له ځلورو پېړيو راهيسې په ځينو شعرونو (سپين شعرونه) کې قافيه نه لري. همدارنګه د اروپا په کلاسيک شعر او د هيوادنۍ تهذيب ډېلويانو په شعر کې قافيه نه مراعات کېده. البته د وزن برخه دا هنګډرېتم په بڼه په تعريفونو کې راغلې ده.

درېيم اعتراض چې بنايي تر ټولو مهم اعتراض وي، په شعر کې د اخلاقي موازينو هېرونه ده. په دې باره کې بايد په صراحت سره ووېل شي چې اخلاق واقعاً بنه شی دی، خو د شعريت اصلي معيار نه دی او د شعر په نسبت بهرنی معيار ګڼل کېږي، نه ذاتي معيار. د غلط فهمۍ د لېرې کولو د پاره بايد په دې برخه کې توقف وکړو.

(احسان طبری) ليکي: «حال سوال پيش می‌آيد: در يک اثر هنری از اجزای سه گانه کدام مهمتر است؟ بلا فاصله بايد (مختصات فکری، بديعی، فنی) گفت اگر يک اثر هنری فاقد مختصات بديعی باشد همه چيز هست بجز اثر هنری زيرا آن ويژه‌گی که اثر هنری را به مثابه مظهر خاصی از خلاقيت شعور انسانی از انواع ديگر خلاقيت جدا می‌کند همانا (بديع) يا هنری بودن آنست، نه اينکه مشتمل بر فکر و انديشه ايست، يا حاکی از داشتن قواعد فنی معين. بهمين جهت حق است که اگر کسی را که موافق قواعد فنی و مراعات علوم عروض و قافيه و صنايع لطيفه و معنويه ابياتی سروده است ولی شعرش از قريحه خلاق شاعرانه از سوزها و شورها، از يافت‌ها و نکته دانی ها از احساسات و تخيلات از تعابير و تصاوير بديع وغيره تهی است شاعر ندانيم وتنها ناظم بشمريم.

آری يک اثر هنری تنها زمانی در خورد چنين نامی است که واجد

مختصات ضرور بدیعی لاقل به حد مطلوب نکافی باشد . ولی اگر مختصات بدیع جامه زیبایی بر پیکر زشت اندیشه های پوچ کژو زیانمند باشد چطور؟ آیا باز هم اثر هنری است؟ آری زهری شیرین وافیونی معطر است ولی اثر هنری است ، چنانکه برخی از آثار فرانسس کافکا یانوشته های صادق هدایت را میتوان ازین نوع شمرد . جامعه حق دارد آنرا تشویق نکند ، ولی نمی تواند هنری بودنش را انکار نماید .»(۵)

له دغو یا دو نو څخه ښکاره شوه چې شعریت او اخلاق لازم او ملزوم نه دي ، له بده مرغه ځیني ادیبوهان یا ادبي کره کتونکي غیر اخلاقي له ضد اخلاقي سره منترادف بولي په داسې حال کې چې غیر اخلاقي یوازې دا مفهوم افاده کوي چې اخلاقي موضوعات (ښه یا بد) پکې نشته ، کله چې نه وایم: (لمر راوخوت ، آسمان شین دی) دا غیر اخلاقي جملې دي . شعر کیدای شي چې یوه منظره توصیف کړي بې له دې چې اخلاقي قضاوت ورسره ملګرى کړي . طبیعي علوم هم له اخلاقو څخه بحث نه کوي هیڅوک حق نه لري چې د فزیک پر کتاب باندې اعتراض وکړي چې ولې اخلاقي وجیزې پکې نه دي راغلي ، ځکه چې فزیک یوازې طبیعي قوانین راسپړي . دا چې د ټولنې واکمنان له دغو قوانینو څخه استفاده کوي د فزیک په علم پورې اړه نه لري . د شعر موضوع هم کټ مټ دغسې ده ، شعر ، شعر دی نه اخلاقیات (ایتیکس) .

موضوع یو شي دی او شعر (شکل او محتوا) بل شی . شاعر کولی شي هره موضوع چې وغواړي د خپل ځان د پاره انتخاب کړي او په شاعرانه ژبه او بدیعي ډول سره یې افاده کړي . سره له دې ځیني داسې موضوعات شته چې له شعر سره نه جوړیږي ، لکه د فزیک او کیمیا فرمولونه شرح او

او یا ښخو ته ورته موضوګانې، (لونا چارسکی) د شوروی اتحاد د
فرهنګي چارو مسوول په دې باره کې داسې لیکي: هغه هنرمند چې په خپل
اثر کې د هېواد د تطبیق شوو اقتصادي پلانونو هدفونه انځور وي ارزښتمن
هنرمند نه دی ښه هنرمند هغه دی چې داسې قلمرو ته لاره پیدا کړي
چې تر اوسه پورې نه وي کشف شوي او په داسې حوزه کې کار وکړي
چې منطق او ارقام پکې لاس ونه لري.)[۶]

په همدې ارتباط یوه بله پوښتنه را ولاړېږي او هغه دا چې (شعر د
شعر د پاره دی) او که (شعر د ژوند د پاره) یا په بله ژبه: شعر د
ژوند د پاره دی که د خوند د پاره؟ په دې باره کې ډېرې زیاتې لیکنې
شوي دي، خو د امثاله لکه چې په سمه توګه نه وي درک شوې. هغو
کسانو چې (شعر د شعر د پاره) شعار ورکاندې کړ هدف یې دا و چې شعر
باید په تجارتي متاع بدل نه شي، د خوشامندي او چاپلوسۍ وسیله ونه
ګرځي، د دوله ییزو مقاصدو او ورځنیو تبلیغاتو د لاس آله نه شي،
شعر د ګېډې غذا نه ده، بلکې د روح غذا ده. د هغو په نظر د شعریت
محیط ښکلا ده نه ګټه. آیا ښکلا له ژوند سره اړه نه لري؟ آیا په ژوند
کې خوند اهمیت نه لري؟ که داسې وي نو شعر ژوند ته ښکلا او
خوند ورېښني او له بې خوندۍ څخه یې ساتي.

(اسماعیل نوری علا) د براډلي خبرې داسې را نقل کوي: «تجربه
(شاعرانه) هدف خود را درون خویش دارد (شعر برای شعر) و دارای
ارزش ذاتی است.
ارزش شعری این تجربه نیز تنها همین ارزش ذاتی می باشد.
شعر ممکن است دارای ارزش های خارجی نیز باشد و وسیله ای برای خدمت

به فرهنگ ومذهب محسوب گردد ، چراکه میتواند حامل دستورات باشد یا از درد ها بکاهد و یا کار خوبی را انجام دهد ، چه بهتر ، بگذارید ازین نقطه نظرها نیز مورد ارزیابی قرار گیرد ، لیکن ازین ارزش خارجی نمیتواند ارزش های شاعرانه ی آنرا تعیین کند.»(۷)

د (شعر د شعر دپاره) مفکوره په حقیقت کې د شعر په ذاتي ارزښت باندې تکیه کوي او بهرني ارزښتونه عبوري او مؤقتي بولي.

د (پلیخانوف) په عقیده د (شعر دشعر دپاره) مفکوره په خاصو اجتماعي شرائطو کې راولاړه شوې ده. داهغه زمانه ده چې شاعر له بورژوازۍ یعنې حاکمې طبقې څخه ځان لیرې کړی دی، له هغه سره همکاري نه کوي او په اصطلاح له غله سره د جوال خوله نه نیسي او د هغه منفعت پسې ستي اپورتونېزم او چالاکۍ ته په سپکه سترګه ګوري (۸) او غواړي چې هنر آزاد کړي ، خپلواک یې کړي ، د بورژوازۍ په خدمت کې یې وانچوي.

د څلورم اعتراض په باره کې به همدومره یادونه کافي وي چې ووایو : د شعر د پېژندلو سنه طریقه دا ده چې وګورو شاعرانو څه ویلي دي . شعر د شاعر کار دی او همدغه شاعر دی چې شعر یې رامینځ ته کړی دی. داسې نه ده چې شعر له مخکې نه موجود وو او شاعر هغه وموند یا یې لاس ته راوړ . نو کله چې موږ د شعر په ارتباط د شاعر کار څېړو داسې مانا لري لکه شعر چې موږ څېړلی وي.

نو شعریت یعنې څه؟

که پورتنۍ یا دونې سمې او په ځای وي نو له هغو څخه قسماً دا نتیجه لاس ته راځي چې د شعریت دپاره باید ورچیني (بهرنیو) معیارونو ته په (مخه سنه) ووایو.

پاتې کېږي د شعر ځاني (ذاتي) توکونه چې عبارت دی له مفکورې، تخیل، احساس او آهنګ څخه او س به د هر یوه توک په باره لنډې یادونې وکړو :

(۱) **مفکوره** : په هر شعر کې باید یوه مفکوره نغښتې وي که درباید) کلمه حذف کړو، نو داسې به ووایو چې هر شعر له ځانه سره یوه مفکوره لري .

(کارلایل) وایي چې شعر موزیکال فکر دی ، خو ځینې اديبان همان مفکوره د شعر اصلي توکی نه ګڼي . د اخبر و بیدل » ته منسوبه ده چې وایي : « شعر خوب معنی ندارد » . نامتو فرانسوي لیکوال او فیلسوف (ژان پل سارتر) هم په دې باره کې ځینې خبرې لري . هغه شعر له ادبیاتو څخه جلا کوي دده په نظر شعر د موسیقۍ ، نقاشۍ او پلاستیک هنر په شان پخپله غایت دی . په داسې حال کې چې ادبیات له ځانه سره یو پیغام او رسالت لري . همانسې چې د موسیقۍ آوازونه کومه خاصه معنا نه سنبالي شاعرانه الفاظ هم بې له دې چې پر خپل مدلول یا نښانه دلالت وکړي ، د موسیقۍ د نوټ په شان لفظي تصویر جوړوي . دغه تصویر د نقاشۍ تابلو یا مجسمې ، یا پر تمیني ماڼۍ ته ورته دی چې فقط مشغلا منعکسوي نه ضرورت او اړتیا .

د شعر حکم د نقاشۍ ، مجسمه جوړولو او آهنګ جوړولو په شان دی ، لکه چې (آرتور رمبو) وایي :

ای فصلونو ، ای قصرونو !

کوم روح دی چې بې عیبه دی ؟

شاعر له هیڅ څخه پوښتنه نه کوي . هیڅوک هم پوښتنه نه کوي شاعر غایب دی او پخپله پوښتنه هم دې ته نه ده حاضره چې ځواب واوري

بلکې خواب د ننه په پوښتنه کې پروت دی. د شاعر مقصد دا هم نه دی چې دوا بې هر څوک پوه عیب لري. شاعر فقط شاعرانه خبره کړې ده، کوم هدف، پیغام یا مانا پکې نشته. دا لاندې شعر وګورئ:

وایلون او پیشکې
وهلې پورته پورته خبرې کې
غوا د میاشتې د پاسه ټوپ وواهه
وړوکی سپي وخندل
چې دغه چلن نه یې ولیدل
پشقاب له چلې کاشوغې سره منډې ووهلې

«د یوه انګریزي شعر ترجمه»

ښاغلی «ګراوکس اینتهٔ» وايي چې دغه شعر نامعقول دی، هو نامعقول دی، مګر په زړه پورې شعر دی. کله چې ماشوم دا شعر اوري له خندا او خوشالۍ نه لاندې پړ کوي او ټوپونه وهي.

دا شعر نه دی، لوبه ده خو څوک ثابتولی شي چې د شعر ویلو انګېزه د لوبې له انګېزې سره توپیر لري.»

هو نامعقول دی او ښایي همدا سبب دی چې شعر دی، هماغه د چا خبره چې د شعر قلمرو د منطق او ارقامو قلمرو نه دی. د شعر منطق خاص شاعرانه منطق دی. په شعر کې تشبیه، استعاره، تمثیل، حسن تعلیل مبالغه، بداعت، تخیل، اسطوره او داسې نور توکونه شعر له منطق او صوري تفکیر څخه لیرې کوي. د شعر صغری، کبری او نتیجه ځانته مخصوص شکل غوره کوي.

تو همچو صبحی و من شمع خلوت سحرم — تبسمی کن و جان بین که چون همی سپرم (حافظ)

دا شعر منطقي تحليل ته ضرورت نه لري ، ځکه چې «تحلیل شعر ببخوند کوي .»

دآفتاب په کمند نه څــــړم آسمــان ستــه
نه ن د م بار لکه شبنم په دوش د ګلو

(کاظم خان شيدا)

(اسماعيل نوری علاء) د (H. Coombes) خبره رانقلوی : (ظریف ترین وبرجسته ترین افکار فیلسوفان ، روانشناسان ومردم شناسان ونظایر آنها صرفاً باورود برشعر ، شاعرانه نمی‌شوند. کسی که شاعرانه فکر میکند خود شاعر است.») (۹)

وايي چې نا متو اديب (ادين) ته يو ځوان مراجعه وکړه او ورته وې ويل : « زه غواړم چې شعر ووايم ، لطفاً ماته لار ښوونه وکړه .» (ادين) ورځخه وپوښتل : «آیا د شعر ويلو لپاره کومه مهمه مفکوره له ځا نسره لرې ؟ » هغه په ځواب کې ورته وويل : « هو ، غواړم يو مهمه مفکوره په نظم راوړم .» (ادين) ورته وويل : « څه بچيه ! له تا څخه شاعر نه جوړيږي ! »

دا خبره د مبالغې په توګه ويل شوې ده ، خو د هغو ځوانو شاعرانو د پاره ښه درس دی چې فکر کوي ښه شعر يوازې هغه شعر دی چې مهمه مفکوره پکې نغښتل شوې وی او يا شعار پکې راغلی وی . کله کله د يو شعر ښکلا د يوې کلمې په استعمال پورې اړه لري ، لکه په لاندې بيت کې د (عکس) کلمه د دوهم ځل د پاره :

مابرفتيم وعکس ما باقی است = گردش روزگار برعکس است

وګورئ د « الفت » د لاندې شعر په وروستۍ مصرع کې د « ګرد » کلمې شعر څومره خوند ور کړی دی :

له کوم لوری را روان یو جهانگرد وُ
مخ او خټې باندې یې پروت د لارې گرد وُ

ماویل څه دې ولیدل په دې جهان کې
ویلې د ومره شومه یوه چې جهان گرد وُ

په دې شعر کې نه د جهان دگرد والي (د ځمکې دکرویت) مفکوره او نه د دورې او گرځېدونې څرنګ د جهان د ګردوالي مفکوره دلوستونکي ذوق او پاملرنه راپاڅوي بلکې په هنري توګه د مطلب افاده د خوند او التذاذ منبع گرځي.

د پورتنیو یادونو څخه باید دا نتیجه وانه اخیستله شي چې گویا په شعر کې مفکوره نشته او یا مفکوره څه ارزښت نه لري. اصلي مطلب دا دی چې مفکوره په شعر کې هغومره تیاکونکی نقش نه لري، لکه څومره چې په هنري او بدیعي توګه دیوې مفکورې څرګندونه یې لري.

علمي پرنسیپونه، تاریخي فاکتونه او فلسفي نظریې په شعر کې راتلای شي خو د هغو شته والی د شعریت معیار نه ګڼل کېږي.

علمي، اخلاقي او فلسفي مفکورې باید شاعرانه شي، د شعر تابعیت ومني په شعر کې جذب او ویلې شي او بیا ته خپل ځان په هنري میلهیم کې راڅرګند کړي. د ایران نامتو شاعر رید الله رویایي لیکي: «مختصر آنست که شعر به کارها و روزها کاری ندارد، نه نقل میکند و نه می آموزد، شعر تنها ست و از هر اجباری رها. بر سرنوشت خودش حکومت میکند و نه بر هیچ سرنوشت دیگری. بدهی ای نه به جامعه دارد، نه به اخلاق، نه به ایمان و دانش، و در عین حال بیم دارد از اینکه چیزی پست و حقیر باشد» (۱۰)

د شاعر مقصد دا دی چې علمي ، اخلاقي، مذهبي او سیاسي ارزښتونه د شعر په نسبت بهرني ارزښتونه دی ، نه د شعر ذاتي ارزښتونه . هغه څه چې د شعر ذاتي ارزښت ټاکي هنري او ایستیکي خصوصیات دي .

زکل پاچا الفت) وایي : ((تا سې له شعر او شاعر نه علمي حقایق مه غواړئ . د شعر هدف حقیقت نه دی جمال دی .))

هغه کسان چې شعر دژوند هینداره یا د واقعیت انعکاس بولي ، او په عین وخت کې د نوره (خالص) شعر، فورمالیستي شعر او نورو غیر ریالیستي شعرونو شته والی په رسمیت پیژني د خپل تعریف د توجیه کولو دپاره باید د تناقص د حل لاره ولټوي . که چیرې غیر ریالیستي شعر ته هم شعر ویل کیږي (او د دغسې شعرونو شمیر هم لږ نه دی) نو موږ نشو کولی واقعیت د شعریت معیار وبولو .

لنډه یې دا چې په هر شعر کې یو روڼ مفکوره شته ، خو تش د مفکورې شته والی د شعریت دلیل نه ګڼل کیږي ، بلکې مفکوره باید په شاعرانه صورت کې تجلی وکړي .

(۲) د شعر تر ټولو مهم او اساسي توک تخیل دی . ځینې ادبپوهان د « تخیل » پر ځای د ((تخییل)) کلمه غوره ګڼي ، خو څرنګه چې « تخیل » کلمه عمومیت لري نو د لته له همدغه متداول لفظ څخه کار اخلو . د خواجه نصیر طوسي) په « معیار الاشعار » کې ویلي دي چې د شعر غرض تخیل دی .

اما تخیل څه شي ته ویل کیږي ؟ د تخیل اصطلاح ډیره اوږده تاریخچه لري . د لرغوني یونان د زمانې نه تر اوسه پورې په دې باره کې ډیر بحثونه شوي دي او د ډیر ځله د هغه مفهوم Fantasy او Fancy سره ګډ شوی دی . د لته به لنډه توګه لومړی تخیل شرح او بیا ورو سته

تعریف کړ و .

داروا پوهانو په عقیده شیان او پدیدې د حواسو له لارې په ارگانیزم باندې اغېزه کوي چې په لومړۍ مرحله کې احساس کېږي او بیا دادراک پړاو ته رسېږي (پېژندل کېږي) د ادراک له لارې انسان یو شی پېژني. کله چې یو شی غایب وي احساس او ادراک هم محو کېږي، خو د هغه شي اثر په ذهن کې یو تصویر (ایماژ) پرېږدي. ذهني تصویرونه بیا پېریال دانګې و یا اثر کله په خپل اصلي صورت څرګندېږي چې هغې ته تداعي یادونه (Recollection) ویل کېږي او کله په بدله څېره کې تجلی کوي چې په دې صورت کې تخیل بلل کېږي. شاعرانه تخیل د ځینو په نظر شهود او الهام ته ورته دی او د ځینو نورو په عقیده په هغه کې یوه شعوري هڅه شامله ده.

د فلسفې قاموس (د مسکو چاپ، ۱۹۶۷ کال) تخیل داسې تعریفوي: «تخیل هغه استعداد یا قابلیت دی چې د واقعیت نه د لاس ته راغلو انطباعاتو پر اساس په بشري شعور کې نوي حسي یا فکري ایماژ نه (انځورونه) تخلیق کړي هغه چې په تا کلې شبه کې واقعي موجودیت نه لري.

تخیل نه یوازې په هنر کې، بلکې په ساینس کې هم اهمیت لري، ځکه د تخیل په واسطه فرضیې، ماډل مفهومونه او د تجربو د پاره مفکورې مینځ ته راځي. اما په تخلیقي فنونو کې تخیل یو اساسي عنصر دی. تخیل په شعر کې د تشبیهاتو، استعارو، څېرو او اسطورو په بڼه تبارز کوي. د اسطورې څخه مقصد د راتلونکي وخت ایډیالي تجسیم دی. څېره (پورټریټ) د موجودو شیانو او پدیدو عیني تصویر دی چې د انسان په واک یا قلمرو کې وي، خو اسطوره یو ایډیالي یا ارماني تصویر دی چې په موجوده وخت کې د انسان

له واک څخه وتلی وي . تخیل د ترکیب له لارې مختلف او نا متجانس شیان سره پیوندوي یا ګډوي .(*)

(۳) احساس : په شعر کې احساس یا عاطفه ضروري شرط دی .که شاعر درد، آرزو ، احساس، اند ېښنه ، قهر او تاثر ونه لري نو لوستونکي یا اوریدونکي له داسې شعر څخه خوند نه شي اخیستلای . «لیف تولستوی» په خپل اثر «هنر څه دی ؟ » کې په دې ټینګار کوي چې د شعر اصلي وظیفه داده چې مقابل لوري ته احساس ورنقل کړي . (ساوستیانوف) لیکي چې «په هنر کې قضاوت مفکوره او حقیقت په عاطفي بڼه تبارز کوي» او «د هنر وظیفه یوازې معرفي نه ده، بلکې هغه د انسان په وړاندې مسألې طرح کوي ، ژوند ته خوند وربخښي او د نړۍ په ارتباط د ده عاطفي برخورد پیاوړی کوي . » (۱۱)

که څه هم د غه خبرې د هنر په باره کې په عام ډول څرګند وي، خو څرګنده چې شعر د هنر یو عمده توک دی نو طبعاً د شعر په باره کې هم صدق کوي . (امیر حسین اریان پور) لیکي : « بطور خلاصه : فلسفه محصول علم و هنر است ، وعلم شناختی است مبتنی بر مفاهیم کلی و دارای جنبه ادراکی قوی . پس بیش از واقعیت درونی واقعیت بیرونی را مورد توجه قرار میدهد . وچون ثبات نسبتی واقعیت بیرونی از واقعیت درونی بیشتر است ، علم که بر واقعیت بیرونی تاکید میورزد ، بیانی است ــ نسبتاً قاطع ، بیانی است کمی از وضع موجود واقعیت ، از آنچه هست . هنر شناختی است مبتنی بر تصاویر جزئی و دارای جنبه عاطفی قوی . پس ، بیش از واقعیت بیرونی واقعیت درونی را مورد توجه قرار میدهد ... بیانی است نسبتاً خصوصی ، بیانی است کیفی از تحولات واقعیت ، از آنچه باید باشد ، از امکانات امید ها ، آرزوها . » (۱۲)

(موري) وايي: «استر شاعر د ژوند په باره کې د نتايجو دلاس ته راوړلو دپاره هڅه نه کوي، بلکې په هغه کې يو کيفيت تشخيصوي. د ده عواطف چې په يوه بل کې يې تداخل کړی دی، ورو، ورو په ده کې يو عادت را مينځ ته کوي، چې شيان او پېښې پرده باندې له نورو زيات اغېزه کوي... زما په يو هم داد شاعر د تجربې اسلوب عاطفي بڼسټ دی»

د ايران يو ډېر مشهور شاعر او ادب پېژندونکی (نادر نادرپور) وايي: «من به آن چيزی شعر ميگويم که در من انفعال عاطفي ايجاد کند احساس و انديشه مرا بر انگيزد ومرا د ستخوش نوعی هيجان سازد.»[3]

شعر، که بڼکلی وی يا هيجان پارونکی تصوير درلودونکی په هر صورت له احساساتو او عواطفو سره اړه لري.

(٤) وزم (آهنگ = Rhythm) : د (وزم) کلمه چې غاړې (لحن) او آواز ته ويل کېږي، دلته د (ريتم) يعنې د آواز د موزون والي په مانا استعمال شوې ده. په پارسي کې د (ريتم) دپاره د «آهنگ» له کلمې څخه کار اخيستل کېږي. مونږ کوښښ کړی چې (وزم) - (ريتم) په معنا استعمال کړو. په شعر کې د منظمو او يا تقريباً برابرو زماني وقفو تر مينځه د هماغه مشابه آوازونو تکرار ته ريتم ويل کېږي.

مونږ دلته هغو تجربو ته رجوع نه کوو چې اروا پوهانو د وزم (ريتم) په باره کې کړې دی، خو دا خبره څرګنده ده چې (که په حپله آواز ملکې وه نه وی) وزم د انسان پرسايکلوجي باندې لذت بخښونکی اغېز کوي.

دا بايد ووايو چې هر شعر (د آزاد شعر په ګډون) هرومرو يو ډول وزم لري. حتی بڼکلی او خوندور څېزي نثر هم يو ډول وزم لري

خو د آزاد شعر او هنري نثر وزم باقاعده او منظمه متریک بیلګه نه تعقیبوي . ځینې ادبپوهان آزاد شعر د منظم وزن د نه درلود لو په سبب اصلاً شعر نه ګڼي . که خبره همداسې وي نو وزم د شعر ارګانیک توک دی. که آزاد شعر (لکه له نامه څخه یې چې ښکارېږي) شعر وي ، نوهغه هم یو ډول وزم لري چې البته دنظم په اندازه باقاعده نه دی .

نتیجه :

شعر له څلور ضروري توکونو څخه جوړېږي - مفکوره ، تخیل، احساس (عاطفه) او وزم . ددې خبرې ضمني مانا داده چې هرنظم شعر نه دی . په شعرکې د مفکورې شتوالی حتمي دی ، ځکه چې بې مفکورې شعر، شعر نه دی ، لیکن په شعرکې مفکوره باید شاعرانه (په شعرسره دافادې وړ) مفکوره وي . له دغو توکو یا دونو څخه وروسته، کولی شو د شعر د پاره دالاندې تعریف پیشنهاد کړو :
شعر په وزم لرونکې ژبې سره د مفکورې او تخیل عاطفي ترکیب ته ویل کېږي.

مأخذونه

(1) د شعر په باره کې د واصف باختري، مقاله ، لکچرهای اموزشی برای اشتراک کنندګان نخستین کنفرانس سرتاسری نویسندګان جوان، پوهنتون کابل، ۱۳۶۲ .

(2) Barrow et al, An Introduction to Literature Houghton Mifflin Company Boston 1959, pp. 665-66.

(۳) سرمحقق دوست شینواری ، دادب دتیوری اساسونه، دولتي مطبعه ، ۱۳۶۵ ، ۸۵-۸۶ مخونه

(4) George Walley, Poetic process, 1963. p. 235.

(۵) احسان طبری ، مسایل از فرهنگ وهنر وزبان ، انتشارات مروارید، چاپ اول ، تهران، ۱۳۵۹ هش کال ، (۱۵- ۱۶) مخونه

(۶) لونا چارسکی ، درباره ادبیات ، مترجم :ع.ن ، کمیته دولتی طبع ونشر ، ۱۳۶۳، ص. (۱٤) .

(۷) اسماعیل نوری علاء ، صور واسباب در شعر امروز ایران، سازمان انتشارات بامداد ، چاپ اول تهران ، ۱۳۴۸ ، ص. (۸۴) .

(۸) د زیات تفصیل دپاره وګورئ : ادبي څېړنې محمدصدیق روهي تالیف ، ۱۳۶۰ ، مخ (۳۸) .

(*) که هدف یوه سرپناه وي نو بیه کوډ له هم ضرورت رفع کولی شي . پرتمینه ماڼۍ دښکلا د ذوق دتسکین دپاره جوړېږي، نه دارتیا درفع کولو دپاره . په یوه خاورین کنډو ولې کې هم اوبه څښل کېدای شي، نو بلوري ګیلاس دڅه دپاره جوړېږي؟ مجسمه، تابلو، زینتي بوټي او کلان شعر او په مجموع کې هنر دارتیا وسره اړه نلري، مګر داچې دښکلا سره مینه په خپله یوه انساني ارتیا ګڼله شي .

(۹) اسماعیل نوری علاء ، صور واسباب در شعر امروز ایران، چاپ اول ، سازمان انتشارات بامداد ، تهران ، ۱۳٤۸، ص . (۵۰) .

(۱۰) اسماعیل نوری علاء ، هماغه کتاب ، (۲۸۰) مخ

(**)(اسطوره) د فلسفي متولې په توګه جلا مفهوم او تعریف لري ،

دلته دیوي ادبي اصطلاح په توګه راغلی دی.

(11) «The theory of Reflection and the Arts»

Savostyanov, Marxist-Leninist Aesthetics and the Arts, Progress publishers Moscow. 1980, pp. 143-44.

(۱۲) امیرحسین آریان‌پور، جامعه شناسی هنر، چاپ روتاسیون، مطبعه حزبی، مؤسسه نشراتی ح.د.خ.ا، ۱۳٦٤ هش کال حمل (۷۲) مخ.

(۱۳) مصاحبه علی اصغر ضرابی با نادرپور، مجله فردوسی، شماره ۸۱۰ به نقل از اسماعیل نوری علاء، همان کتاب.

د شعر په باره کې څو یادونې

ادبي ارزښت

د موضوع د روښانولو لپاره ځینې خبرې په یوه خاطره پیل کوم:

هغه وخت په دولسم ټولګي کې وم، کلیوالو به هر وخت داویلې چې: په زړه کې مې فکر وکړه، زړه مې راته وویلې. زړه مې ومنله او داسې نور.

دوی فکر کاوه چې زړه د فکر کولو غړی (ارګان) دی. ما په ښوونځي کې لوستي وو چې زړه د وینو د ویشلو دنده تر سره کوي. د فکر کولو غړی دماغ دی. یوه ورځ مې یوه د بره کې ناسته خلکو ته وویل چې: زړه فکر نه کوي، بلکې ماغزه فکر کوي. یو مشر چې په خبرو او استدلال کې ډېر تکړه و، دا خبره ونه منله. زمونږ د واړو بحث د وام وکړ او په پای کې زه پړ شوم. د ده استدلال دا وچې که چېرې زړه وینه ونه رسوي نو ماغزه هم کار نشي کولی، نو په دې

اساس ته د فکر کولو لپاره ضروري غړی دی او که زړه ونه دربيږي نو فکر کول هم پای ته رسيږي . کليوالو دده په دليل او منطق آفرين روايه اوريچيار ته خطاب وکړ «مکتبي پر شوې»

ماهيتيکار کاوه چې ته نديم پرشوی. دا سمه ده چې که زړه ونه وي نو ماغزه هم خپله وظيفه نشي ترسره کولی، ليکن دا ددی معنا نه لري چې زړه فکر کوي.

دغه کليوالی استدلال ډېر ځله زموږ د پخو او متکو ليکوالو په ليکنو کې هم ځان ځرګندوي . د مثال په توګه دوی وايي که مفکوره «ايډيا» نه وي نو شعر نه جوړيږي او له همدې امله مفکوره د شعر اساسي توک دی . وروسته دوی زياتوي چې هره مفکوره د ځان د ځرګندولو لپاره په خپله يو مناسب شکل غوره کوي.

که موږ دغه ډول استدلال وکړو، نو ويلی شو چې ډوډۍ د شعر اساسي توک دی، ځکه چې که څوک ډوډۍ ونه خوري نو نه مفکوره شته او نه شعر . نباي يو بل څوک اعتراض وکړي چې ډوډۍ په خاوره او بو، لمر او هوا پورې اړه لري که دغه شيان نه وي نو نه ډوډۍ شته او نه شعر . نو موږ نه پوهيږو چې د شعر لازمي توک کوم دی؟

بله پوښتنه دا ده چې آيا هره مفکوره د شعر کېدلو لياقت لري؟ يو ځلې (لونا چارسکی) د شوروی اتحاد د فرهنګي چارو مسوول ويلي وه « هغه هنرمند چې په خپل اثر کې د هېواد د تطبيق شوو اقتصادي پلانونو هدفونه انځوروي ارزښتمن هنرمند دی . ښه هنرمند هغه دی چې داسې قلمرو ته لاره پيدا کړي چې تر اوسه پورې نه وي کشف شوي

او په داسې حوزه کې کار وکړي چې منطق او ارقام يې لاس ونه لري (۱) داخبره موږ ته جوت راکوي چې د ځينو «مترقي کوټونکو» له انتقاده څخه د بې کېدلو مصوونيت احساس کړ و. ځکه ځينې له شاعرانو څخه داسې غوښتنه کوي چې د پنځه کلنو اقتصادي پلانونو په باره کې شعرونه وليکي او که دا کار نشي کولی نو لږ تر لږه بايد تيوريکي موضوعګانې په شعر کې بيان کړي او يا د ورځې مسايل په شعر کې منعکس کړي.

زما عقيده دا ده چې د هرې مفکورې د پاره د شاعرانه پروسس له تهيه ونه وروسته د شعر کېدلو امکان شته، خو ځينې مواد په اسانه سره د شعر په فابريکه کې د پروسس لپاره نشي تيار ېدلی. موږ بايد ددې انتظار ونه لرو چې دوړينه تار څخه وريښمين دسمال جوړ کړو. په همدې ترتيب ځينې مفکورې سختې غير شاعرانه دي، لکه (لوناچارسکي) چې ورته اشاره کړې ده.

که دا خبره سمه وي نو هره مفکوره حق د پره لوړه علمي مفکوره يا دوياضي فورمولونه د شعر او شاعرۍ قلمرو ته نه ور ننوزي. ددې خبرې بله معنا دا ده چې يوازې شاعرانه مفکوره د ځان د څرګندولو لپاره تناکلی شکل غوره کړي. ليکن دا يوه ستره لانجه ده. څوک کولی شي چې د شاعرانه او غير شاعرانه مفکورو د بېلو لو لپاره يو اوږد فهرست جوړ کړي؟ دا کار نه مطلوب دی او نه ممکن. مخصوصاً په دې دليل چې له شاعر سره هيله کېږي نوې مفکورې وړاندې کړي او کمچانه له مخکې نه معلومه وي، نو په دې صورت کې شعر نوښت نه لري او

---

(۱) لوناچارسکی، درباره ادبيات، مترجم: ع، د کميته دولتي طبع ونشر، ۱۳۶۳، ۱۴ مخ.

خپله بې ارزښت له لاسه ورکوي. که مفکوره د شعر تاکوونکې توکي دي نو شاعر باید په خپله ستر مفکر وي، په داسې حال کې چې د عنعني له مخې دا خبره سمه نه ښکاري. ډېر لوی شاعران شته چې نو کلوره، اسطورو او فانتازي ورانده کوي او مفکره یې علمي ارزښت نه لري، مگر د اد بي ارزښت څخه یې خوک سترګې نشي پټولی. ادبي ارزښت له علمي، فلسفي یا اخلاقي ارزښت سره ارګانیک پیوستون نه لري، همدغسې چې شعر د ښېښي جوهر ښت او آهنګ له مخې له عادي ویینا (نثر) سره توپیر لري، «شاعرانه شوې مفکوره» هم د کلتور له عادي مفکورو سره یو شلنته نه دي. هغه څه چې شاعر یې په شعر کې وبلي شي د عادي شخص لپاره جواز نه لري، د مثال په توګه د خوشحال خټک دا شعر:

نه خوشحال کمزوری نه یم چې به یار کړم
په ښکاره نارې وهم چې خوله یې را کړه

یو شاعرانه طغیان دی. د غسې طغیان به شعر کې ډېر خوند کوي مگر که خوشحال خټک دغسې خبره په نثر په یوه لوی مجلس کې ویلې وای، سپین ږیرو او درندو پښتنو به سخت خپګان ښکاره کړی وای او د پښتني کلتور له نورمونو څخه به یې انحراف بللی وای.

حافظ شیرازي په صراحت سره په دغه بیت کې شرابو ته اشاره کوي:

آن تلخ وش که صوفی ام الخبائثش خواند
اشهی لنا واحلی من قبلة العذارا

دا بیت د کلتور له منل شویو نورمونو څخه تېری دی، لیکن د

شعریت په برکت نه یوازې بیاچې څوک یې بد نهٔ گڼي لیکن په ښه او خوښه یې تکراروي . تولسه د شاعرانو رندی، طغیان او له کلتوري نورمونو څخه تېری زغملی شي او له ډېرو تنګ نظره متعصبو پرته نور خلک له دغسې سرغړونو څخه خوند اخلي .

د دې خبرو نتیجه داده چې شاعرانه بداخلاقي د عادي اشخاصو له بداخلاقه سره توپیر لري . (افلاطون) دېر زنیا ر وایست چې د (هومر) شعرونه سانسور کړي، ځکه ده په عقیده د (هومر) شعرونه د ځوانانو اخلاق فاسدوي، لیکن څه فایده یې ونه کړه، ځکه چې (هومر) شعر ویلی و، او حتمي نه ده چې شعر دې د نورو مابتیف اخلاقو تابع وي .

د حمید په دیوان کې دا شعر زیات شهرت لري :

خط پر مخ د صنم راغی که سپوږمۍ شوه په هاله کې
دایې غاښ پر خوله کې زیب کاکه ژاله شوه په لاله کې
دا زما له غمه شین زړه پکې خیال د یار د شرنه و
هسې رنګ زیب او زینت کا لکه مې په شنه پیاله کې

نو له دبرهان په دې خبره پوهېږي چې د صنم پر مخ د خط راتلل کوم پورل معشوق ته اشاره ده . په دې کې هم د کلتور له نورمونو څخه انحراف لیدل کېږي . سره له دې چې د غه شعر د حمید په ادبي شهرت کې ډېر زیات نقش لري .

له پورتنیو خبرو څخه مونږ یوې بلې نتیجې ته رسېږو او هغه دا چې د مفکورې څرنګوالی د ادبي ارزښت لپاره تاکونکی عامل نهٔ ګڼل

کېږي. یوه مفکوره بنایي علمي، فلسفي یا اخلاقي وي او حتی وزن او قافیه هم ورکړل شي اما له دې سره سره د ادبپوه او شعر پېژندونکي په نظر له ادبي ارزښت څخه بې برخې وي. هر نظم شعر نه ګڼل کېږي او حتمي نه ده چې هر شعر دې منظوم وي. له دې امله د وزن او قافیې په درلودلو سره حتمي نه ده چې یوه مفکوره شعر و ګڼل شي.

(اسماعیل نوری علاء) د اخبر را نقلوو: «ظریفترین وبرجسته‌ترین افکار فیلسوفان روانشناسان ومردم شناسان ونظایر آنها صرفاً باورود به شعر، شاعرانه نمیشوند. کسیکه شاعرانه فکر میکند خود شاعر است»(۱)

وایي چې یو ځوان نامتو ادیبو (ادین) ته مراجعه وکړه او ورته وې ویل: «زه غواړم چې شعر ووایم، لطفاً ما ته لارښوونه وکړه».

ادین له ده څخه وپوښتل: «آیا د شعر ویلو لپاره کومه مهمه مفکوره له ځانه سره لرې؟» هغه په ځواب کې ورته وویل:

«هو، غواړم یوه مهمه مفکوره په نظم راوړم.»

د دغه ځواب په اورېدو سره (ادین) ورته وویل: «ځه بچیه له تا څخه شاعر نه جوړېږي.»(۲)

کېدای شي د اخبرې د واقعیت خوښوونکو (ریالستانو) په نظر یو څه اوبې مفهومه ښکاره شي. دلته هدف دا نه دی چې د اخبرې دې ومنل شي، بلکې هدف دادی چې واورېدل شي. یو څوک ښایي یوه خبره اوري پوځیه او بې معنا ورته ښکاري، سبا یې بیا اوري ځیرت پکې وهي. همدا ځیرت وصل پخپله د ډېر اهمیت لري. (پابلونرودا) وایي چې: «ثابت او

---

(۱) اسماعیل نوری علاء، صور واسباب در شعر امروز ایران، چاپ اول، انتشارات بامداد، تهران، ۱۳۴۸-مخ ۵۰.
(2) Barrow et al An Introduction to Literature 1959

جاں ید اني احکام په شعر کې وجود نه لري .» مهم ټکی دا دی چې مختلفې نظريې په دقت سره او له پخوانۍ موضعګیرۍ پرته واورېدل شي .

مونږ ټولو ته څرګنده ده چې اديبان کره کتونکی د شعر د ارزښت ټاکنې لپاره له بېلابېلو معيارونو څخه کار اخلي . څوک د شعر اخلاقي او تربيتي اړخ ته ارزښت ورکوي ، ځيني يې د ښايست او جمال له پلوه څېړي ځيني يې د ټولنپوهنې په هنداره کې ګوري ، څوک اسطورې پکې لټوي ، څوک يې پر استيتکي ارزښت ټينګار کوي او ځيني نور ورپاندې نور معيارونه تطبيقوي .

زما په عقيده علمي ، اخلاقي او فلسفي ښېګڼې د شعر په نسبت بهرني توکونه دي . که شعر د اخلاقو په ترويج د علومو په تعميم او د فلسفي افکارو په تعميق کې برخه واخلي دا به د ډېر ګټور کار وي او دا به داسې مثال ولري ، لکه ميوه زينتي ونه چې د ښکلا په خاطر کېنول شوې وي او خلکو ته ميوه هم ورکړي . شعر د زينتي ونې په شان دی په اصل کې د ښکلا لپاره دی او که ګټه ولري ، نو دا خو کومه د اعتراض وړ خبره نه ده . معتبر او مايه خلک ښايي د زينتي ونې له ميوې څخه استفاده ونه کړي او دا يوازې غريبان دي چې ميوې ته يې سترګې نيولې وي . د خوراک لپاره د خوند او ښکلا مسأله دوهمه مسأله ده ، تر هر څه د مخه بايد د دوړ ګېډه مړه شي . له دې څخه ښکاري چې ښکلا او اړتيا بېلابېلې پديدې دي . يو شی به ښکلی وي خو ګټور به نه وي او يا دې په خلاف ګټور به وي خو ښکلی به نه وي .

شعر خپل ارزښت له ښکلا څخه اخلي نه له اړتيا څخه (مګر دا چې ښکلا خوښونه هم يو ډول اړتيا وګڼله شي .) ناستوليکوال (ويکتور هوګو)

وايي : « څه ګټه نه لري؟ ښکلې دي، آيا همدغه کفايت نه کوي؟ د ګلانو په شان ، د عطرونو په شان ، د مرغيو په شان او د ښو لو هغو شيانو په شان چې بشر نشي کولی په خپله خوښه هغو ته تغيير ورکړي او ضايع يې کړي. په عمومي توګه هر شی چې ګټور وي ښکلی کېدای نشي، ځکه ورځني ضرورتونو ته ورننوزي ، شعر په نثر بدليږي او آزادي مري يې کېږي . هنر آزادي ده ، پر تم دی ، غوړېدا ده ، د روح غوړېدا ده په بطالت کې . نقاشي ، مجسمه جوړونه او موسيقي مطلقاً د هيڅ شي په درد نه لګېږي . موږ د هنر له آزادۍ څخه ملاتړ کوو . زموږ په نظر هنر وسيله نه ده ، بلکې غايه ده . هر هنرمند چې بې له ښکلا څخه د بل شي په باره کې فکر کوي ، زموږ په يوه هنرمند نه دی .»

فرانسوی فيلسوف (ژان پل سارتر) شعر له ادبياتو څخه جلا کوي ، د نقاشۍ موسيقۍ ، مجسمه جوړونې او معمارۍ په کتار کې يې دروي .

طبعاً د ده منظور له شعر څخه ايډيال شعر دی ، نه هر د ول منظوم اثر.

د سارتر په عقيده شعر د موسيقۍ ، نقاشۍ او پلاستيک هنر په شان پخپله غايت دی . په داسې حال کې چې ادبيات التزام او تعهد قبلوي او کولای شي يو پيغام ولري ، شعر د التزام وړ نه دی همداسې چې د موسيقۍ آوازونه کومه خاصه معنا نه ښندي ، شاعران الفاظ هم بې له دې چې پر خپل مدلول يا ښانه دلالت وکړي د موسيقۍ د نوټ په شان لفظي تصوير جوړوي . د غه تصوير د نقاشۍ تابلو يا مجسمې يا پر تمينې ماڼۍ ته ورته دی چې فقط ښکلا منعکسوي ته ضرورت او اړتيا (۱).

---

(۱) شعريت يعني څه؟ روحي ، کابل مجله (۸-۹) ګڼه ، ۱۳۶۶ هـ ش ، مخ ۳۲

د محترمو لوستونکو په اجازه دلته یوه بله خاطره لیکم . د پغمان په یوه باغ کې مو له دوستانو سره میله جوړه کړې وه ، یو چا د افسوس په لهجه وویل چې د دغه مخامخ ماڼۍ تعمیر څو- څو ځله وران شوی او بیا جوړ شوی دی ، ځکه چې د باغ خاوند به چې په ماڼۍ کې څه نیمګړ تیا ولیده ، ماڼۍ به یې وړانګه او بیا به یې د نوي ډیزاین په اساس جوړوله ، په دې ترتیب یې ملیونونه افغانۍ هدر و لاړې .

ما ورته وویل : د دغه ماڼۍ د سرپنا د پیدا کولو لپاره نه ده جوړه شوې . د ماڼۍ خاوند د کابل په ښارکې کور لري . دا ماڼۍ د هنري ذوق د تسکین لپاره ودانه شوې ده ، نه داچې تیا د پوره کولو لپاره . په دې اساس ویلای شو چې کله او ایستیکي ذوق هر وخت سره غاړه غړې کېدای نه شي . د شاعر چې خپل شعر خوښ نه شي له سره یې جوړ وي ، د نقاش چې تابلو خوښه نه شي هیسته یې غورځوي ، اما کلال خپل منګی نه ماتوي ، ځکه چې یو غریب خوښه پیدا شي چې په ارزانه یې ورباندې خرڅ کړي . یو تاجر تر څو چې امکان ولري خپل خراب او خوسا شیان هم په پیسو خرڅوي . البته د دې احتمال شته نشي کولی چې یو وږی شاعر د دې د حق الزحمې لپاره یو بې خونده شعر هم چاپ ته وسپاري او همدغسې نقاش دروا خله . خو بحراني حالات او استثنایي حالات دي . هنر په عام ډول له ذوق سره اړه لري : ذوق یې خوښونکی او روزونکی دی او ذوق یې قاضي دی . د ادبي او هنري ارزښت د ټاکلو لپاره هیڅ کوم ټاکلی فورمول - چې د علمي فورمول په شان د ټولو لپاره د منلو وړ وي - نه دی وضع کړی . ادبي ارزښت په نهایت کې پر ذوق تکیه کوي . نامتو لیکوال « ا . کار الن پو » په دې باو

کې داسې وايي: « نه به د کلمو شعر هغسې تعریف کړم لکه چې هغه د ښکلا آهنګوال تخلیق وي. د هغه یوازینی قاضي ذوق دی. له عقل او وجدان سره د هغه ارتباط ضمني (فرعي) دی. که تصادف په پام کې ونه نیسو نو شعر له وظیفې یا حقیقت سره سروکار نه لري»(1)

د فرانسې ستر شاعر (شارل بودلر) د شعر په باره کې داسې نظر څرګندوي: « ځینې خلک تصور کوي چې د شعر هدف ښوونه ده او شعر باید چې کله د وجدان په بشپړ ولو کې زیاروباسي او یا د اخلاقو او آدابو ښوونه وکړي او کله هم هغه څه چې ګټور وي په ګوته کړي ... شعر پې له خپل ځانه بل هدف نه لري او نه یې شي درلودلی.»

که داخبره ومنل شي نو د شعر ارزښت څنګه ټاکلی شو؟

دا بېله اوږد د بحث غواړي، خو دلته باید دومره وویل شي چې شعر د تعریف او تحدید په واسطه میخانیکي بڼه پیدا کوي. مونږ کولی شو چې د خوندورې غذا د پخولو لپاره د آشپزۍ له کتاب نه استفاده وکړو. هلته د هرشي اندازه، د حرارت اندازه او حتی د وخت اندازه، هرڅه لیکل شوي او د تطبیق وړ دي، اما د شعر مسأله داسې نه ده، د شعر په پېژندلو او حتی د شعر په باره کې د تخصص درلودلو په سبب څوک شاعر کېدای نشي. طبیب، انجنیر، کرنپوه (اګرونومیست) پیلوټ او داسې نور له نظري درس نه وروسته په تطبیقي برخه کې هم پر مخ ځي. اما د شعر پېژندنې او ادبپوهنې په

---

(1) William F. Thrall and Addison Hibbard. A HANDBOOK TO LITERATURE (revised) The odyssy press, New York, 1960, P365

برخرکي په تخصص در لود لو سره حتمي نه ده چې څوک سبه شعر ووايي.
سره له دې چې د دې خبرې معنا دا نه ده چې د شعر د ماهيت او جوهر
پيژندنه د شعر ويونکو سره مرسته نه کوي او يا دا چې اصلاً د
شعر له پيژندلو پرته شعر ووايي. شعر خپل ارزښت له هنري
ژبې، تخيل، تصوير، آهنګ او عاطفي بار څخه ترلاسه کوي، چې
د دې ټولو شرح جلا بحث غواړي.

نتيجه:

شعر دوه ډوله ارزښتونه لري: ذاتي او بهرني.

د شعر بهرني ارزښتونه اخلاقو، علم، فلسفې، سياست، مذهب
يا ايډيالوجۍ ته خدمت کوي. متعهد شاعران د شعر بهرنيو ارزښتونو
ته زيات اهميت ورکوي. متعهد شعر ديوې ټاکلې طبقې، قشر، سياسي ډلې
يا مذهبي فرقې مرام ته وقف شوي وي او له دې امله د ټولو لپاره د خوند او التذاذ منبع نه ګرځي.
اما هميشني او جاويداني شعر د ټولو انسانانو په آدرس ويلې کېږي او د شعر ذاتي
ارزښتونو څخه کار اخلي. په دغه ډول شعر کې هم مفکوره د بشريت له بايمي ارزښتونو
او پراخ هيومانيزم سره اړه لري. د زمانې په اوږدو کې هر نسل ته احساس
او عواطف ور انتقالوي، عشق، ښکلا، سوله او دوستي، ايثار، زړه سوی،
ګډ آرمانونه او داسې نور هميشني ارزښتونه د شعر ښه تانه او سمسود
ساتي.

د شعر ذاتي ارزښتونه ښکلا، تخيل، تصوير، هنري ژبه، آهنګ،
احساس او جذبات دي. بهرني ارزښتونه بايد شاعرانه شي له هغې
ور وسته د شعر نوم ور باندې ايښودل کېدای شي.

نثر او شعر

نثر په اصل کې عربي کلمه ده، په لغت کې شیندلو او تیتولو ته وايي او په اصطلاح کې هغه وینا ده چې وزن او قافیه نه لري. (۱)

د ادب پېژندنې په اکثرو متونو کې نثر په دوه ډوله ویشل شوی دی:

۱- مرسل نثر، چې د وزن او قافیې له قید څخه آزاد وي.

۲- مسجع نثر، چې سجع پکې راغلې وي.

(فرهنگ ادبیات فارسی » د (داکتر خانلری کیا) تالیف په دې باره کې داسې لیکي: « نثر مرسل، نثری است که نویسنده در آن مقید به آوردن سجع یا صنایع لفظی دیگر نباشد.

نثر مسجع نثری است که نویسنده در آن مقید به آوردن سجع باشد. مثال از گلستان سعدی: « منت خدای را عزوجل که طاعتش موجب قربت است و به شکر اندرش مزید نعمت ».

په ځینو آثارو کې نثر په درو ډولو ویشل شوی دی: مرسل، مسجع او مرجز.

خو ځرنګه چې په مرجز نثر کې له متوازنې سجعې څخه کار اخیستل کېږي ،
نو کېداى شي چې صفت هم د مسجع نثر یو ډول وګڼل شي . ځینې ادبپوهان مرجز
نثر ته متوازن یا مماثله هم وایي . د مسجع نثر د پېژندلو د پاره به د تسجیع په
باره کې یو څه یادونه وکړو :
تسجیع دې ته ویل کېږي چې په وینا کې سجع راوړله شي . دغې وینا ته مسجع
او مشابه جملو ته قرینه ویل کېږي . سجع په لغت کې د کوترې یا د کوکو شنتو (قمري)
د آواز په مانا راځي . په اصطلاح کې د قرینې وروستیو کلمو ته چې په وزن یا د رګ
توري کې سره یو شانته وي سجع ویل کېږي . په قرآن کریم کې د سجعې په ځاى
د فاصلې اصطلاح استعمالېږي چې جمع یې فواصل راځي .
سجع پر درو ډولو ده :
۱- متوازي چې په وزن او روي توري کې سره یو شانته وي ، لکه (کار، بار)
(مال ، کال) ، (جامه ، نامه) .
۲- مطرف چې الفاظ د روي په توري کې سره موافق وي او په وزن
کې مختلف وي ، لکه (دانه ، زمانه) ، (مل ، عمل) ، (شان ، نښان) .
۳- متوازنه سجع چې د قرینې کلمې په وزن کې برابرې او د روي په
توري کې مختلفې لکه (پاک ، صاف) ، (شریف ، کریم) ، (کار ، کان) . (۲)
ځینو پښتو لیکوالو سجع د قافیې په مانا اخیستې ده ، نو ځکه یې مسجع نثر ته
قافیه وال نثر ویلی دی . که څه هم متوازي سجع د جوړښت له مخې له قافیې
سره توپیر نه لري ، خو کله چې د غه ډول سجع په ناموزونه وینا کې راشي قافیه
نه بلل کېږي . که چېرې د سجعې نور ډولونه هم په حساب کې ونیسو او باید چې
ویې نیسو ، نو سجع او قافیه یو له بله توپیر لري ، سره له دې چې داخبره هم
باید په یاد ولرو چې په دري ژبه کې هم د مسجع شعر نمونې شته ، په پښتو ژبه کې

د مطرفې سجعې په اساس ډېر زيات نظمونه موندلای شو. د قافيې په برخه کې پښتو شعر د عربي او دري ژبو له شعرونو سره يو شانته نه ښکاري.

د سجعې په برخه کې زموږ د دومره زيات توقف دليل دا دی چې وروسته د نثر توپير بايد له آزاد شعر، سپين شعر، ادبي ټوټې او منثور شعر سره تر بحث لاندې ونيول شي.

په انګرېزي ژبه کې نثر ته Prose وايي. د نثر اصطلاح، د هغې په پراخ مفهوم سره پر هغو ټولو ليکنو او ګړنيو څرګندونو باندې تطبيقېږي چې منظمه آهنګواله بېلګه نه لري. کله چې په ادب پېژندنه کې د نثر په باب خبرې کوو نو هغه د ژبې هغې د نثر سره يو څه توپير لري. په ادبياتو کې هر ډول ګډې وډې او تصادفي خبرې نثر نه بلل کېږي. منه نثر يو ډول آهنګ لري، په غوږونو خوږ لګېږي، خو د هغه آهنګ ټاکلی نظم او قاعده نه لري او له هغې امله له نظم سره توپير لري. د نثر آهنګ د متريک آوازونو تابع نه دی. ځينو ادب پېژندونکو د نثر ځانګړتياوې په دې ډول ښودلې دي:

۱- نثر منظم او باقاعده آهنګ نه لري.

۲- په نثر کې ګرامري قاعدې او منطقي ارتباط ساتل کېږي.

۳- نثر سبک لري، که څه هم د يو ليکوال سبک به د بل له هغه سره يوشانته نه وي.

۴- نثر پر سربېره پر ګرامري او منطقي قواعدو د فصاحت د اصولو پيروي هم (۳)

هنري يا ادبي نثر د بديعي مختصاتو په درلودلو سره له عادي نثر سره تفوق لري. د هغه يادونه مونږ دې ته رابولي چې د نثر پر ډولونو باندې بحث وکړو. لوېديځ ادب پېژندونکي په عنعنوي لحاظ نثر په څلورو ډولونو وېشي: تشريحي، توصيفي، استدلالي او داستاني.

په (انسايکلوپيډيا بريتانيکا ۱۹۷۲ کال) کې نثر پر درو ډولونو وېشل

شوی دی : توصیفي (دپېښو،خلکو، ځایو، شیانو) تشریحي (یا توضیحي) او هیجاني (یا احساساتي) .

د نثر دا دوه ډوله معمولاً د انشاء (لیکوال) د بحث په ترڅ کې تر څېړنې لاندې نیول کېږي. دلته دا یادونه هم ضروري ده چې پاسني دوه ډوله په نثر و (خالص) شکل په ندرت سره لیدل شوي، خو بیا هم د اصلي او ضمني ډول ترمینځ په اساس سره د بېلتانه کرښه ایستل کېدای شي.

د مثال په توګه په اکثرو داستانونو کې دکرکټر، ځای او پېښو توصیف راځي او د لیکوال اصلي هدف داستان لیکنه ده، نو موږ یې په اثر نثرته د استاني نثر وایو. او س به د نثر دوه ډوله په لنډه توګه تعریف کړو:

۱- تشریحي نثر (Expository) :

د دغه ډول نثر د تعریفونو، جریانونو (پروسو) تعمیمونو، مفکورو اوپېښو د بیانولو سره اړه لري او له دې امله هیجاني او بدیعي اړخونه یې تقریباً د نشت برابر دی. له تشریحي نثر څخه زیاتره دعلمي تحلیل، ترکیب مقایسې او تصنیف دپاره کار اخیستل کېږي. ځینې یې توضیحي (Explanatory) نثر هم بولي.

۲- استدلالي نثر (argumentative) :

په داسې حال کې چې تشریحي نثر په عمده توګه یوه موضوع، یوه مفکوره یا تیم (theme) توضیح کوي * استدلالي نثر زیار باسي دمنطق اوبرهان په واسطه لوستونکی یا اورېدونکی دیوه تیسس یا حکم په صحت یا بطلان قانع کړي. برهاني نثر د ذهني اقناع او عمل ته د هڅونې او پریوه مفکوره د کرو هونې (معتقدکولو) دپاره پکارېږي.

۳- توصیفي نثر (Descriptive):

په توصیفي نثر کې د حسي تجربې (عاطفي ادراک) موضوع په داسې توګه بیانیږي چې لیکونکی مقابل طرف ته خپل احساس انتقال کړي او په هغه کې عاطفي عکس العمل راوپاروي. توصیفي نثر یوه پیښه، یوه منظره، یو شخص (یا خلک) یا شیان د یو تاکلي هدف سره سم په ښکلو، مشخصو او فصیحو الفاظو سره بیانوي.

٤- داستاني نثر (narrative):

په دغه ډول نثر کې خیالي یا واقعي پیښې د زمان او مکان په ترتیب سره بیانیږي. ساده داستاني نثر پیښې په کرونولوجیک ډول سره بیانوي. خو هغه نثر چې طرح (Plot) لري او د هنري پرنسیپونو په اساس لیکل شوی وي، طرح لرونکی داستاني نثر بلل کیږي.

ویل کیږي چې د نثر هر ډول له یوه تاکلي هدف سره اړه لري. تشریحي نثر د معلوماتو له زیاتولو سره مرسته کوي. استدلالي نثر د یوه تیسس د اثبات یا د چا د فکورې او نظر د اړولو دپاره بکاریږي. توصیفي نثر د عاطفي او ایستیکي اړتیاوو دپاره بولو دپاره یو کومکي دی او داستاني نثر هم د تخیل د وینولو او تفنن یا اخلاقي ښوونې په منظور لیکل کیږي.

د نثر هر ډول ځانته خپله ژبه او جلا سبک لري. د علمي، تحقیقي مسایلو د حل لپاره له تشریحي (یا توضیحي) نثر څخه کار اخیستل کیږي. او دا به ډېره مشکله وي چې مثلاً د کیمیا یا بیولوژۍ موضوعګانې په ادبي نثر ولیکو. همدا که په کوم ځای کې چې توصیفي نثر مناسب ښکاري هلته باید له تشریحي نثر څخه کار وانخلو. د مثال په توګه دا لاندې دوې جملې سره پرتله کړئ باید دوهم یا مې ښوونه ولې.

دونو دستور بدلو علت بادئ.

لوړه جمله په توصیفي نثر لیکل شوې ده، په داسې حال کې چې دوهمه جمله د تشریحي نثر په بڼه راغلې ده. که وروستنۍ جمله د یوې منظرې د توصیف د پاره استعمال شي د لیکوال د معیارونو سره سمون نه لري.

فصیحه وینا هغه ده چې د حال مقتضیاتو سره مناسبه وي.

نـــثر او شعـــــر:

په ځینو وختونو کې د آزاد شعر او آهنګوال ادبي نثر خیمې څنګ په څنګ سره درېږي. ښايي د هر یوه ځیمه معلومه وي، خو ننداریې یې په تشخیص کې له ستونزو سره مخامخ کېږي. د دې لا نجې د سپیناوي د پاره به د «آزاد شعر» او «شاعرانه نثر» اصطلاحات توضیح کړو.

د یوناني فیلسوف ارسطو نه رانیولې تر ننه ورځې پورې عام تصور دا دی چې هر نظم شعر نه بلل کېږي، ځکه د شعر اصلي جوهر خیال دی، نوکه په نظم کې ذهني انځور «ایماژ» او خیال نه وي د شعر حکم ور باندې نشي کیدای.

د منطق پوهانو په نظر، شعر مخیل کلام دی، وزن او قافیه یې لوازم دي.

د دغې مفکورې پر بنسټ ځینو شاعرانو له وزن او قافیې څخه سترګې پټې کړې او داسې شعرونه یې ویل چې متریک (تقریبًا یا عروضي) وزنونه او قافیې یې نه درلودل. په انګرېزۍ کې د غه ډول شعر ته (Free Ver se) او په فرانسوۍ کې (Vers Lib re) وايي چې اصلي مانا یې (آزاد نظم) دی، خو زموږ ادبیانو یې د «آزاد شعر» په نامه یادوي.

آزاد شعر متر (یعنې د نظم په کرښه کې آهنګواله بیکه) او قافیه نه لري (٤٠) په فرانسه کې (ویکتور هوګو) د نظم زاړه قیود لیرې کړل. په جرمني کې نوالیس (د شپې په مدح) کې سندرې وویلې، خو په (١٨٠١) کې ئې نشه په بڼه

چاپ کړې . له دې نه محکې د (میک فرسن) نظمونه چې (د اوسیان نظمونه) نومېږي په آهنگوال نثر ویل شوي وو. په ۱۸۳۶م کال کې (الیوسیوس برتراند) منثور نظمونه ویلي وو او د فرانسې نامتو شاعر (شارل بودلېر) د هغه پیروي وکړه. د امریکې په متحده ایالتونو کې نامتو شاعر (والټ - وایټمن) خپل اثر (د وښو پاڼې) په آزاد شعر ولیکه. (هاینریش هاینه) مشهور جرمني شاعر (شمالي بحیره) په آزاد شعر وویله. په دې لړ کې (هیلسي)، (مایتو اورنولد)، (امی لوویل) د پولي فونیک شعر نوښتګره) او (ستیفن کرین) نومونه د یادونې وړ دی. (۵)

آزاد شعر مخالفان او مدافعان لري. په هر صورت د هغه ډول شعر شته او د دغه شعر نوم د نړۍ د ډېرو سترو شاعرانو: هوګو، وایټمن، هاینه له نومونو سره تړل شوي دي او د ادبیاتو په قاموسونو کې هم د آزاد شعر اصطلاح منل شوې ده.

- ځینو ادب پېژندونکو په نظر د آزاد شعر او ادبي نثر ترمینځ توپیر د تخیل، شعري لوازمو، او بدیعي مختصاتو په اساس ممکن دی. د (الیوت) په عقیده د هر ډول آزاد شعر ترشا دیو ډول آهنګ شبح شته. په عمده توګه آزاد شعر د میخانیکي کېدو پرضد اعتراض دی. داسې هم ویل کېږي چې وزن د مادي شیانو او د شعر ذاتي توک نه دی. اما په دې صورت کې د شاعرانه نثر (poetic prose) او منثور شعر تر مینځ زیات وړتوالی لیدل کېږي. ځینې ادب پېژندونکي وایي چې د دواړو ترمینځ توپیر د نوښتګر لیکوال په قصد او اراده پورې اړه لري. د ځینو نورو په عقیده په منثور یا آزاد شعر کې د آهنګ ونډه زیاته ده. اما د دواړو ډولونو ترمینځ د توپیر معیار شعریت دی.

څرنګه چې په آزاد شعر کې فني او ظاهري خصایص نشته او که وي هم د نظم په اندازه نه دي ، نو باید د شعر د پېژندلو د پاره د شعر معنوي عناصر وپېژنو . د شعر معنوي عناصر عاطفه ، مفکوره او تخیل دي . د تخیل (ایماژ، ذهني انځور) عمده لوازم تشبیه ، مجاز کنایه او استعاره دي . هرڅومره چې په نثر کې د تخیل برخه زیاته وي په هماغه تناسب یې شعریت هم زیات دی . سربېره پر دې آزاد شعر د شاعرانه نثر په نسبت یو ډول آهنګ لري ، که څه هم دغه آهنګ به متریک نه وي .

د دې بحث د بشپړتیا له مخکې به د ” سپین شعر“ اصطلاح هم توضیح کړو ځکه چې زموږ ځینې لیکوال آزاد شعر او سپین شعر په عین مفهوم استعمالوي .

سپین شعر په انګرېزي کې د (Blank verse) یعنې سپین ، (خالي - تش) نظم په نامه یادېږي . د سپین شعر مفکوره د هیومانېزم - (بشرپالنې - شپاړسمه پېړۍ) د نهضت تر اغېز لاندې ایجاد شوه . هیومانستانو به ویل چې کلاسیک شعر قافیه نه درلوده . په انګرېزي ژبه کې سپین شعر د لس څپه ییزو بې قافیو مسریو څخه جوړ شوی دی ، چې د وهمه ، څلورمه ، شپږمه ، اتمه او لسمه څپه یې څجونه (اکسنټونه) لري . دغه ډول شعر له ډرامې سره جوړ دی ، خو داستاني او فلسفي موضوعګانې هم پکې بیان شوي دي . ویل کېږي چې د سپین شعر ویل زیات مهارت او قریحه غواړي . که څه هم سپین شعر قافیه نه لري ، خو په عوض کې یې یو لړ نور ادبي صنایع استعمالېږي .

وايي چې د سپین شعر لومړنی ویونکی (Surrey) دی . په لومړي وختو کې دغه ډول شعر ډرامې ته وقف شوی و (میلټن) صفه په

اسپیک شعر وایاوه . کله چې سپین شعر د نا بعه دراماتیست (شکسپیر) په لاس وړی نو سپین شعر د ممتاز شعر په توګه ومنل شو. د سپین شعر تر ټولو ستر استاني : شکسپیر ، میلټن ، ورډ زورث ، کیټس ، شیلي، ټینیسن ، براونینګ ، سوین برن او نور دي . انګریزي ادبپوهانو محاسبه کړې ده چې سپین شعر په مجموع کې د انګریزي شعر دریو څلورمه برخه تشکیلوي .

په دې وروستیو وختونو کې ځینې ادیبان کوم کتوکی سپین شعر په پراخ مفهوم استعمالوي او هر هغه شعر ته چې متریک بې قافیې شکل ولري، سپین شعر وایي. په دې اساس هغوی آزاد د شعر د سپین شعر په نامه یادوي . د پښتو ادبیاتو یو نامتو مؤرخ لیکي : « آزاد یا هغه چې سپین شعرونه او - بې قافیې شعرونه هم ورته وایي او ځینې کسان یې « نوي شعرونه » هم بولي په ختیځ ادب کې نوې پدیده ده . په پښتو کې هم د آزادو شعرونو دودیدل دوه درې لسیزې نیمې پېړۍ سوغات دی . (٦)

د سپین شعر، آزاد شعر او نوي شعر ترمینځ د توپیرونو په باره کې بحث کول زمونږ اصلي موضوع نه ده ، خو دومره یا دونه بکاره ده چې آزاد شعر د یوه ځله وزن او قافیه نه لري او له همدې امله هغه ته منثور شعر ویل شو. اما سپین شعر د نظم په حساب دی او ډول آهنګ درلودونکی دی.

دا د ادبي ژبې نو یوعام پرابلم دی چې د اصطلاحاتو په برخه کې د ادبپوهانو ترمینځ عمومي موافقه (Consensus) نه لیدله کیږي. (لکه د ادب، شعر ، نثر ، ژانر ، ریالیزم ، سبک، مکتب او داسې نورو اصطلاحاتو په باره کې) او له دې امله په دغه برخه کې د سم او ناسم حکم هم په اسانه سره نه شي کېدای.

دا د بیاتو په ازموینه (امتحان) کې دا بحث د آزموینې شکل نه نتیجه نه درکوي

بهتره داده چې دېوې اصطلاح په تعریف کې محصل (یا انځوینې ورکوونکی) ته فرصت ورکړی شي چې اصطلاح په خپله تعریف کړي. او د تعریف د انتخاب یا سم کېدو دلایل په مفصله توګه بیان کړي. په دې صورت کې داد زیاتې دپاره ښه امکانات ترلاسه کېږي.

دپښتو نثر د متونو انتخاب او پېژندود:

که موږ د پښتو نثر متون یا د لوړو ټولګیو د لوست کتابونه د تصنیف له پلوه وڅېړو، په ځینو کې هیڅ ډول سیستم نه لیدل کېږي، او که وي هم خپل ځان نه ښي ښودلی.

د نثر د متونو د ټولګو دپاره باید تر هرڅه د مخه هدف وټاکل شي. د هدف په ټاکنه کې د ټولنې اړتیاوې، د زده کوونکو اړتیاوې او د دسیپلین (درسي مضمون اختصاصي ځانګړې) اړتیاوې په پام کې نیول کېږي. د ټولنې اړتیاوې په جمله کې هر وګړو ته مشترک اړ نسبت شته چې هغه د فرهنګ انکشاف او تعمیم دی. د اختصاصي ځانګړو په اړتیاوو کې د عمده مقولو پېژندنه او متقابل اړیکي غوره پر نسیپونه او له ټولو ندسره د هماغو پر نسیپونو اړیکې او د هماغه ځانګړې تاریخي او دوره نمایي انکشاف شامل دي. د زده کوونکو اړتیاوې په هماغه ځانګړې کې د معلوماتو زیاتوالی، د مقولو او پر نسیپونو سره اشنایي، د څېړنې او ارزیابې میتود، د مهارتونو پر مختیا، د انګېرنې (طرز تلقی) او سلوک بدلون او د پیا بلمونو د حل دپاره د زده کوونکو د استعدادونو روزنه او د اسې نورې اړتیاوې دي.

د پښتو نثر د متونو په مرند (انتخاب) کې ځینې ادبپوهان د کلاسیک متونو انتخاب ته تمایل لري او هدف یې دادی چې د مشکلو ترکیبونو،

اصطلاحاتو او لغتونو په حل کولو سره لوستونکي له پخوانیو متونو سره اشنا کړي ځینې یوازې د هنري نثر پر تمېنې بېلګې انتخابوي خو بېد دې وسیله لوستونکي له هنري سبکلاوو او بدیعي یا فني مختصاتو سره پېژندګلوي پیدا کړي او ادبي ذوق یې لوړې سطحې ته پورته شي. د ځینو نورو په نظر د نثر متون باید د هرې ادبي دورې د خصوصیاتو ښکاره وي او له هرې دورې املا متون پېژندونکي په تاریخي لحاظ د هرې دورې ټیپیک متونه انتخابوي. په دغه کټګورۍ کې بنایي ځینې داسې نثرونه هم وموندل شي چې هنري ارزښت یې لږ وي، خو د یوې تاریخي دورې ادبي خصوصیات پکې منعکس شوي وي.

تر اوسه پورې د نثر د متونو تهیه کوونکي د عنعنې له مخې یوازې د لغتونو په حل کولو او د څو متحد الشکله کلیشه یي تبصرو په زیاتولو بسنه کوي. د مثال په توګه دوی لیکي چې دغه نثر روان یا مغلق دی، د خیلې کلمې پکې زیاتې یا کمې دي، نثر مسجع یا مرسل دی، او تقریباً همدومره.

په دې ځای کې باید د یادونې وکړو چې د نثر متون د نثر له تاریخ سره تړلي، ځکه چې د نثر تاریخ په سیستماتیک ډول د نثر د تطور عوامل، او له اقتصادي، اجتماعي شرایطو او د فرهنګي سنتونو سره په ارتباط کې د هرې ادبي دورې د فکري بهیرونو، ادبي سبکونو، ایستیکي نورمونو او د بېلابېلو سبکونو ځانګړنې ښيي او له نورو دورو سره یې پرتله کوي. د نثر متون د غو اړخونو ته په ځغلنده او عبوري نظر کوي او زیات تفصیل نه ورکوي.

په لوېدیځ کې هم د نثرونو تهیه کوونکي له بېلابېلو معیارونو څخه کار اخلي، خو په هر صورت کې دوی په کار کې غالباً یو تاکلی هدف او سیستم لیدل کېږي. ځینې ادبپوهان د نثر په متونو کې لنډې کیسې، ناولېږي او همغوته د جلا ټانو په توګه ځانګړي

ارزښت نه ورکوي. ځینې متن پېژندونکي د نثر متون د تاریخي ادبي دورو یا ادبي مکتبونو (لکه کلاسیزم، رومانتیزم، ناتورالیزم، ریالیزم او نورو) په اساس کتاب په څو پارکو ویشي. د هر پارکي په سرکې یو سریزه یا پېژندګلوی لیکي چې په هغه کې د هغې ادبي دورې یا ادبي مکتب خصوصیات او د منفردو لیکوالو د سبک ځانګړتیاوې بیانوي او ورپسې څو مهمې بېلګې راوړي.

په یو نامتو کتاب کې چې (An Introduction to Literture) نومېږي ادبیات په څلورو برخو ویشل شوي دي: لنډه کیسه، ډرامه، شعر او نثر. هره برخه د یو متخصص له خوا تهیه شوې ده. د هرې برخې په سرکې هماغه ادبي ژانر (مثلاً لنډه کیسه) په تفصیل سره معرفي شوې ده. ورپسې د نامتو لیکوالو (یا شاعرانو) آثار راغلي دي، په لارښوونو کې تبصرې یا نقدونه ورباندې لیکل شوي دي. د نثر برخه (د ر والاس دوګلاس) ته سپارل شوې ده (د نثر د مشخصاتو تر سرلیک لاندې د نثر او لیکوالۍ په باب مفصل بیان راغلی دی. ورپسې د لیکوالۍ په باره کې د نامتو ادیبو هانو مقالې مرل شوې دي. بیا د نثر څو مختلفې بېلګې راوړل شوې دي. ورپسې د اتوبیوګرافۍ، معلوماتي مقالې، انتقادي مقالې، استدلال، د سبکونو سطحې او طنز ته ورته لیکنې تر سرلیک لاندې د نړۍ د نامتو لیکوالو مقالې راغلې دي.

د دغې یا دونې مقصد دا دی چې مدون زیاتې استاې دی د نثر له خزانې څخه ښه او ګټور او قیمتي مواد راټول کړي.

په ځینو نورو آثارو کې د نثر د تصنیف د پاره هماغه څلور ډولونه تشریحي (توضیحي)، توصیفي، داستاني او استدلالي د معیار په توګه تامل شوي دي.

د پښتو نثر د متونو په خوښونه او سره کې باید د دغې ژبې ځانګړتیا په حساب کې ونیول شي، خو دا خبره څرګنده ده چې د نثر د متونو هدف توصیفي

او داستاني نثرونه دي. او ځيني استدلالي نثرونه چې هنري ارزښت ولري، د نثر په متونو کې راتلای شي. ځيني کسان د نثر د متونو په ارزیابۍ کې ژبنۍ جوړښت څېړي. په داسې حال کې چې د نثر د متونو د مطالبو عمده صفت د بدیعي او هنري ځانګړتیاوو بیانونه او څرګندونه ده. په دې کې شک نشته چې د ادبیاتو ژبني هنر دی له دې امله په ادبي څېړنو کې ژبه هم تر بحث لاندې نیول کېږي خو په دې تفاوت چې دغه ژبه د یو هنري ابزار په توګه د فصاحت او بلاغت د اصولو په اساس څېړل کېږي او له ژبپوهنیزو څېړنو سره جوت توپیر لري. یعنې په ادبي متن کې باید د ژبې هنري اغېز په پام کې ونیول شي او باید صفت چاپېریال او شرایط په پوره توګه روښانه شي چې تر کومې حده د نثر د متن په غېږ کې پالل شوی او روزل شوی دی.

مأخذونه او توضیحات

(۱) فرهنګ عمید (اووم چاپ ۱۳۵۳ ش کال) په دې باره کې داسې لیکي:

نثر - ع (به فتح نون) پراگنده کردن، پراگنده، کلام غیر منظوم خلاف نظم.

فرهنګ آنندراج (تالیف محمد پادشاه، متخلص به شاد، زیر نظر محمد دبیر سیاقی) د نثر مانا داسې راوړې ده:

نثر - بالفتح وراى مهمله، ع پراگنده و سخن پاشیده و پراگنده کردن وسخن بسیار گفتن و فرزند بسیار آوردن و بینی افشاندن و نثره انداختن از تن مرد وکلام نثر که آنرا انشاء گویند.

فرهنګ ادبیات پارسی (دکتر زهرای خانلری کیا، ۱۳۴۸ کال) نثر په دې توګه تعریف کړی دی: نثر در لغت به معنای پراگندن و در اصطلاح کلامی است که مقید وزن و قافیه نباشد.

(۲) جلال الدین همائي، فنون بلاغت وصناعات ادبي، جلد اول، انتشارات دانشگاه سپاهیان انقلاب، تهران، ۱۳۵٤، مثالونه یې ددغې مقالې لیکونکي پورې اړه لري.

(3) Willam F. Thrall et. al. A Hand book to literature

The odyssey press. N. Y. 1960. p. 382.

(*) تیم په لغت کې د بحث یا خبرو موضوع ته ویل کېږي. په ادبیاتو کې مرکزي یا حاکمه مفکوره د تیم په نامه یادېږي. او په علمي آثارو کې تقریباً د تیسس (تېزس) سره مترادفه ده. په شعر، داستان او ډرامه کې تیم هغه مجرد مفهوم یا ایډیا ده چې د شخص په وجود، عمل یا پېښه کې تبلور مومي او مشخصه کېږي.

(4) Joseph T. Shipley, Dictionary of World literature. Philosophical Library, N.Y. 1953 - p. 172

(5) Ibid, p. 172

(*) پښتو ژبه په عمده توګه په خیل عروضي سیستم کې له اروپایي ژبو سره ورته والی لري، نوځکه د عروضي کلمې پر ځای (متریک) غوره بریښي. د دغې موضوع تفصیل جلا بحث غواړي.

(٦) «د پښتو ننی ادب» برېښنا، د افغان یاد، کابل پوهنتون، ۱۳٦۰ کال، مخ ٦۸.

شعر او د نوښت مسأله

دوه کاله مخکې، د درسي لکچر نوټ د تهیه کولو دپاره د ادبي اصطلاحاتو په قاموسونو پسې ګرځېدم. د شعر د تعریف دپاره مې ډېر کتابونه ولټول. کوم تعریفونه چې زما په ذوق برابر وو هغه مې د یادښت په کتابچه کې ولیکل. د شعر د تعریفونو په لړ کې یو چا «مطلق شعر» هم تعریف کړی وُ. له ځانه سره مې وویل مطلق شعر هیڅ معنا نه لري، ځکه چې هر شعر د زمان او مکان له شرایطو سره اړه لري، د خپل وخت د پېښو او فرهنګي جریانونو انعکاس پکې لیدل کېږي او له دې امله هر شعر نسبي او په کلتور پورې تړلی دی.

څه موده وروسته متوجه شوم چې د نسبي په مقابل کې د مطلق لفظ ردېدلی دی. آیا د شعر په قلمرو کې د مطلق لپاره هیڅ جواز نشته؟ آیا داسې شعر نه شو موندلی چې په هر وخت او هر ځای کې خلکو ته منلی وي، زړښت ونه لري او هنري ارزښت یې تلپاتې وي؟

هو! ولې نه! د ادبي اصطلاحاتو په قاموس کې هغو آثارو ته چې په هر وخت او هر ځای کې لوستونکي لري او خلک یې په مینه او خوند لولي کلاسیک آثار ویل کېږي. نو «مطلق شعر» په اصل کې کلاسیک شعر دی، خو

د اکثرو خلکو په ذهن کې کلاسیک شعر د معاصر شعر په مقابل کې تداعي کېږي او داسې تصور کوي چې معاصر شعر تر کلاسیک شعر نشو ویلای. ځیني ادبپوهان د معاصر کلاسیک شعر اصطلاح هم استعمالوي په دې معنا چې د اوسني وخت وتلي او منلي شعرونه معاصر کلاسیک اشعار ګڼل کېدای شي. ځیني نور دا خبره د تامل وړ ګڼي او داسې استدلال کوي چې ښایي معاصر شعر د ورځې شعر وي، د خپل وخت له شرایطو سره متناسب وي، زیات مینه وال هم ولري، خو له دې تېرولو سره فصلي او موسمي شعر وي. دا ډول شعرونه چې د ورځنیو اقتضاآتو په زمینه کې د کدو د بوټي په شان راټوکېږي او د چنار سره ختېږي، له هغو شعرونو سره چې د چنار په شان په خپل مکان مستقیم دي، جوت توپیر لري. «کدویي شعرونه» د «چناري شعرونو» په خلاف، ژوره ریښه او زیات عمر نه لري.

نو دا ډول شعرونه چې دې ماڼۍ په یو ټاکلي مقطع کې راټوکېږي او د موسم په بدلېدو سره بېرته مړاوي کېږي، نسبي شعرونه دي.

مطلق او تلپاتې شعر تر هر څه د مخه هنري او ایستیتکي ا ښت لري. دا یې ذاتي معیار دی. د دې احتمال هم شته چې د شعر سوژه هم د شعر له پایښت سره مرسته وکړي. خو سوژه په هر صورت بهرنی معیار دی او هیڅکله د هنري توب ځای نه شي نیولی. هماغه یوه سوژه ښايي د یو زیات شمېر لیکوالو او شاعرانو په آثارو کې رونزل شوې وي، اما پخپله سوژه د یوه هنري اثر ارزښت او بداعت نه شي ټاکلی. له همدې لامله مطلق شعر مستقل دی. پر خپل هنریت تکیه کوي، پخپله غایت دی، یوازې د هنر په میزان تلل کېږي.

یو زیات شمېر ادبي کوکټونکي د دې خبرې له اوریدو وخته چې «شعر پخپله

غايه ده » سخته نارضايتي څرګندوي. په اخلاقي لحاظ ددوی نارضايتي د توجيه وړ ځکه ده چې په يوه عنعنوي او ودوسته پاتې ټولنه کې، چې ځکړه، بيسوادي او له هغو څخه راز بېز بېلې ځپکې د خلکو پر ستونې فشار راوړي، شاعر او ليکوال څنګه کولی شي د عاج په خيالي ماڼۍ کې خپل ځان له اضطراب او تشويش څخه خلاص کړي؟

شاعر تل هرڅه زيات نرم او حساس زړه لري، له عواطفو څخه ليری کېدل د شاعر لپاره د مړينې حکم لري. شعر د تخيل او عاطفې بچی دی، له دغو دواړو څخه چې يو کم شي شعر يتيم پاتې کېږي.

دا خبرې سمې او په ځای دي، خو د دې خبرې معنا دا نه ده چې شاعر دې فصلي او موسمي شعرونه وايي او څوک چې ده ته د بارومتر (فشار سنج) لقب ورکوي نو دی دې هم له فشارسره سمکته پورته کېږي، له ځانه دې څه نه لري او د نورو وجينې دې تفسيروي. نن دې د يوه او سبا دې د بل مدح وايي او د (الحق لمن غلب) تر چتر لاندې دې وختونه وژني.

تر ټولو بده يې دا چې ادبي کره کتونکي د لاربښوونې په بهانه شاعر ابتذال او سطحي توب ته راکشوي، دورځې شعارونه ورته ديکته کوي او نه يې پرېږدي چې په خپله خوښه د خپل وجدان غږ پورته کړي.

هيڅ ډول لاربښوونې ته ضرورت نشته، شاعر په هرصورت متعهد او هيوادمالنست دی، حتی هغه وخت چې د ګل او بلبل ستاينه کوي او د بنګلا او مينې نغمې غږوي. آيا مينه او ښکلا د ژوند چاشنې نه ده؟ دا څوک دی چې شاعر د ګل او بلبل، او د حسن او کمال له خبرو

منع کوي؟ له بده مرغه کره کتونکی . نو آیا کره کتونکی نه نه لري ، یوازې دکیدوې غم ورسره دی؟ آیا دې له «گل کرم» نه پرته بل گل په رسمیت نه پیژني؟

کله کله په شاعر باندې داسې حالات هم راځي چې د ادبي کره کتونکي له دیکتات او دستوره ونو څخه یې ماغزه اشباع شي ، نور نو د څخه او ربدلو له پاره ځای نه وي پاتې ، له یکنواخته او کلیشه یي خبرو څخه ستړی شي ، په دغه حالت کې د شاعر احساسات طغیان کوي ، اخلاق او منطق صفحې پاته پرېږدي چې ورپسې گرځي ، ناصح ته نور غوږ نه نیسي ، د خپل زړه په خوښه گام ږدی ، په بې لارو روانېږي ، په کنډوالو او شاړو میروکې له ایې شو یوکلکس یو سره د زړه خواله کوي ، د دنیوي زخارفو په سرد خلکو پر ځای وحوش او وحشو ټکولو باندې خندا ورځي ، د زګیرو او ډېرو له کلیو څخه د جنون دښتې ته پناه وړي او د مجنون په څېر خپل ټول غوږ دلیلا په ستړکو کې ښېروي .

څه کم دوه نیم کاله مخکې چا ویلي وو چې شعر د غمونو باب سپکوي او د غم ځپلي انسان د پاره د بېره سبه پناه گاه ده . شعر د هغې کورنۍ ونې په شان دی چې گرمي وهلي مسافر یې سیوري ته کېني .

شاعر غیر عادي خبرې کوي چې د محاورې له سوېې پورته دي . هغه په دغه غیر عادي او ساحرانه خبرو زمونږ ذهن تسخیروي ، د مبتذلو ژوندونو له محدود او کلیشه یي چوکاټ څخه مو را باسي ، یوه شیبه مو د رنګونو او خیالونو جهان ته بیايي . دده له عینکو څخه جهان او خوا د ښ بل ډول ښکاري . نه پوهېږو چې دی څه وايي او که یې نه وایي ، خو هرڅه چې وايي ښکلي یې وايي . دده په وینا کې یو ډول آهنگ او زمزمه احساس کېږي . دې په ښکلا

مین دی، په ژوند کې خوند غواړي ، په خوند کې تنوع غواړي، په تنوع کې نوښت غواړي، په نوښت کې ښایست غواړي ....

* * *

د دغه مقالې په پینځم شعر کې د نوښت مسئلې ته وقف شوی ده.

په دې کې شک نشته چې د نوښت په برخه کې هم مختلفې نظریې شته. په یوه لحاظ خو کائنات دستر کو په رپ کې نوي کېږي او په همدغو هره لږ وخت کې د شیانو ځای، د وقوع شیبه او له نورو شیانو سره روابط تغیر کوي. سره له دې مونږ د هرې شیبې تغیر ته نوښت نه وایو. مونږ دغه نوښت نه ز ... هم ویلی شو. یعنې هرشی چې نوی کېږي نه یې شیني وایي چې مونږ فقط هغه څه نوی بولو چې ضروري وي. اما پوښتنه دا ده چې ضرورت به څنګه وپېژنو؟ په هره زمانه کې خلک ضروری پېښې ضروري بولي، خو وروسته معلومه شي چې هماغو مره ضروري هم نه وې. په بروپېخوانیو جبارانو خپلې غوښتنې د تاریخ جبر ګڼلې دي، خو دا هې ښکاري چې تاریخ د افرادو د ارادې او غوښتنې تابع نه دی.

که مونږ د شعر نوښت له هنري نوښت سره په ارتباط کې وڅېړو نو دا دې کره کتنې کار به موږ اسانه کړی وي. هنري نوښت که له یوه خوا د هنرمند د شرایطو سره نه شلېږي، منګه ایستلی لری له بلې خوا د همدغو شرایطو اسارت هم نه مني، بلکې خپل نسبي استقلال ساتي. د دې امکان شته چې د هنرلنیزو ګړود په وخت کې دې د شعر او ادب په برخه کې نازه او رنګین سبکونه وغوړېږي او بالعکس په بسیا هنرمنه کې دې د شعر کلبو هنې لازمه وده ونه کړي.

دمثال په توګه په سراجیه دوره کې د اماني دورې په نسبت د

شعر او ادب برخه غني ده، حتی هغه شاعران چې په نادره شرایطو کې
خپل غنی پوره ته کوي په مناسبو شرایطو کې چو پټیا غوره کوي او له شعر
ویلو نه لاس اخلي. موږ نه پوهیږو چې په کوم وخت کې به ستر شاعران
وزیږي، پخوانی خلک هم په دې رمز نه پوهیدل، داځکه چې ځیني
ستر شاعران له کنډوالو نه راغلي دي او ځیني له منګلیو ماڼیو، ځیني
شاعران د بحرانو بچیان دي او ځیني د رفاه او پریمانه. ځیني په
بدبختیو کې قانع او خوشبینه وي او ځیني په تنعم کې ناراضه او بدبینه،
ځیني مطیع او آرام دي او ځیني عصیانګر او سرکشه؛ ځیني عالمان دي
خو هغه شعرونه نشي ویلای او ځیني بې سواده دي مګر خوانره او
له سوز نه ډک شعرونه وایي.

د شاعر د پیژندلو د پاره میخانیکي توجیهات څه ګټه نه لري. کوم
خاص معیار نشته چې له یوه شخص نه دې شاعر جوړ کړي. وراثت
چاپیریال، بدني جوړښت، اروايي حالات، ټولنیز ـ اقتصادي موقف
ښوونه او روزنه دا هیڅ یو د شاعر کیدلو د پاره حتمي شرط یا معیار
نه دی؟

اوس به له شاعر نه شعر ته ورتیر شو، البته زموږ د بحث موضوع
نوی شعر دی. ډیر کسان فکر کوي چې نوی شعر هغه شعر دی چې
محتوا یې نوې وي او له محتوا څخه د دوی مراد مفکوره یا پیغام دی.
دا خبره د ردولو وړ نه ده، لیکن اساسي اهمیت نه لري. په دې شک
نشته چې په هر ډول شعر کې یوه مفکوره شته، خو کوم شی چې له شعر
نه شعر جوړوي پخپله مفکوره یا ایډیا نه ده. مفکوره په عادي یا
مرسل نثر هم بیانیدای شي. له سایښس نه د هغو توپیر په دې کې

دی چې د ساینس د پاره مفکوره او د واقعیت اساسي اهمیت لري، اما د هنر د پاره د مفکورې د تصویرولو او تمثیلولو طرز او شکل خاص اهمیت لري. حتی کیدای شي چې هنرمند په تېره شاعر اصلاً واقعیت انځور نه کړي، حتی کیدای شي چې د شاعر خبرې غیر عقلاني وي خو سره له دې په زړه پورې خوږې و لګیږي. کوم شي چې د شعر ارزښت ټاکي هغه تخیل، عاطفه، سبکلا، احساس او آهنګ دی. که په شعر کې علمي، فلسفي او اخلاقي افکار بیان شي دې ته موږ (نور علی نود) وایو. اما د شعر ارزښت له تخیل، سبکلا، آهنګ او د احساس له انتقال سره اړه لري او د غه توکونه یې د هنریت درجه ټاکي.

تاسو دالاندې دوه بیتونه سره مقایسه کړئ:

خطر مخ د صنم راغی که سپوږمۍ شوه په هاله کې
داپې غاښ په خوله کې زیب کاکه ژاله شوه په لاله کې

بل بیت هـ

چې تربیت د یتیم کړینـه د بېر ثواب کوه لرینه

په اخلاقي لحاظ د وهم بیت تر لومړي بیت ډېر ښه دی، مګر د شعریت له پلوه لومړی بیت ډېر ارزښت لري او دوهم یې نه لري. ن اخلاقیات د شعر ښه والی نه شي تضمین کولی، اما بالعکس شعر کولی شي چې د اخلاقي تعلیماتو د اغېزمن کولو او تبلیغولو په لاره کې ستر خدمت وکړي. اجتماعي مصلحانو، دیني مبلغانو، سیاسي لار ښوونکو او ایډیالوجستانو د شعر له ساحرانه تاثیر او ژورې اغېزې څخه په استفادې سره خپل هدفونه په مؤثره توګه ترسره کړي دي.

دا ډېر ښه کار دی چې شعر دیوه سپېڅلي آرمان او بشر دوستانه

پیغام د پاره په کار واچول شي. خو هغه شعر چې یوازې د یوې مذهبي فرقې، یوه ټولنیز قشر یا صنف یا د یوې ټاکلې طبقې د مفکورې او عقایدو خپرولو ته وقف شوی وي د ټولو د پاره مقبول شعر نشي کېدای. هغه وخت چې پراخ هیوماني ستي پیغام و لري، ټولو زړونو ته لار پیدا کولی شي. شعر چې د هرې سوڅې په باره کې وي، د خلکو د پاره ویل کېږي. دا خبره سمه نه ده چې د عوامو تفنن، ټوکې، ټنګ ټکور او ساعت تېرې ته نه خوښېږي او یا دوی ورته ضرورت نه لري. هنر به ژوند کې خوند پیدا کوي او بې خوندي ژوند بې اندېښنه کوي.

که تر دې ځایه چا دغه لیکنه لوستې وي، نو باور لرم چې هر څوک به یې له ځانه سره ویلي وي: «دا خبرې د شعر له نوښت سره څه اړه لري؟ دوهم دا چې دلته ځینې خبرې بې ضرورته ویلې شوې دي، کمه یې څه ده؟»

که دغه ډول انتقاد د چا په فکر کې ګرځي نو زما ځواب دا دی چې دلته تر اوسه پورې د قلم څوکه د خنجر په بڼه اڅوډېږي او د «شعری که خنجر است» مجموعه خپرېږي. زه غواړم دا ووایم چې شعر خنجر نه دی، بلکې ملهم دی.

زه غواړم دا ووایم چې که له شعر څخه د خوند او تفنن له پاره استفاده وشي او یا د غمونو بار سپک کړي، ادبي کره کتونکی ته نه ښایي چې دغه ډول شعر محکوم کړي او فوراً تاپه ور باندې ووهي.
زه غواړم دا ووایم چې ادبي کره کتونکی دې له تهدید او شانتاژ نه صرف نظر وکړي، د شعر او شاعر خپلواکۍ ته دې په درنه سترګه وګوري. زما په فکر دا ادبي کره کتونکي پاملرنه باید دې خوا ته راواړول شي.

دشاعر قلمو

ادب پخپله کوم هدف نه لري، بلکې دا انسان دی چې دادب له میډیم (وسیلې) څخه په استفادې سره خپل هدف څرګند وي. اماددې خبرې مانا دانه ده چې ادب به همېشه وسیله وي. کله کله وسیله په غایه بدلېږي. د مثال په توګه پیسې یوه وسیله ده، خویوشمېر خلک په پیسو مین وي، پیسې راټولوي اما خپل ژوند په خوارۍ تېروي. تاسو به دځینو ملیونرانو دژوند قصې اورېدلې وي چې دیو عادي شخص په سویه ژوند کوي اوکله کله حتی له عادي شخص نه هم په ټیټه سویه ژوندتېروي. په همدې ترتیب علم دژوند له پاره دی، خو دداسې عالمانو شمېر لږ نه دی چې ځانونه یې علم ته وقف کړي وي او دعلمي حقایقو دڅرګندولو له پاره له ځانه تېر شوي دي. دا دعلم قربانیانو له مال اودولت نه دعلم سره زیاته مینه درلوده اوعلم یې دعلم له پاره غوښت.

همدارنګه موږ پوهېږو چې داخلاقو هدف، ښه اوخوشحاله ژوند دی.

یا په بله ژبه اخلاق د نیه ځوند له پاره یوه وسیله ده ، خو یو نیات شمیر انسانان مادي ګټې تر پښو لاندې کړې دي او اخلاقي ارزښتونه یې د سر په بیه ساتلي دي. دغو کسانو وسیله په هدف بدله کړې ده د اخلاقي وجیبې د اداء کولو له پاره یې خپلې مادي ګټې له لاسه ورکړې دي.

دغه پورتنۍ خبرې د ادب (هنري ادبیاتو) په برخه کې هم صدق کوي. یو شمیر لیکوالو او شاعرانو د تاریخ په یوه ټاکلې مقطع کې د (شعر دشعر له پاره) شعار وړاندې کړ. دا هغه زمانه ده چې شاعر او لیکوال له حاکمې طبقې سره مقاطعه کوي او د هغې منفعت پرستۍ، اپورتونیسم او چالاکۍ ته په سپکه سترګه ګوري او غواړي چې شعر او ادب آزاد کړي او یوازې د هنري ذوق د اقناع له پاره یې بکار واچوي.

د ایډیالوجۍ په باره کې هم دغسې حکم کولای شو. بنایي چې یوه ایډیالوجي په اصل کې د خلکو د نیکمرغۍ او سوکالۍ له پاره وضع شوي وي مګر د زمانې په تیریدو سره یې خپل اصلي هدف هیر کړی وي. په راندۀ تعبد، وچ تعصب او قشري نصوصو بدله شوې وي. هغه وخت چې ایډیالوجي خپل جوهر، انساني محتوی او خپل روح له لاسه ورکړي او په جزمي او وچو نصوصو واوړي، نو هلته وسیله دغایې په نسبت زیات تبارز مومي. هدف ته د رسیدو له پاره باید له وسیلې څخه کار واخیستل شي. هدف او وسیله یو له بله نه بیلیږي، خو دې خبرې ماناموانه ده چې که هدف ښه و، وسیله به هم ښه وي. له بده مرغه کله کله د ډیر ښه هدف له پاره د ډیرې بدې وسیلې څخه کار اخیستل شوی دی او په نتیجه کې یې د هدف ښه والي ته هم د پوښتنې نښه ایښودل شوې ده. زه په دې موضوع بحث نه کوم چې آیا د هدف ښه والی د وسیلې بدوالی تبرئه کولی شي که نه؟ اما په دې خبره

ضرور بحث کوم چې: که هدف پخپله هدف وګرځي، نو به دې کې به څانته څه تاوان ورسېږي ؟!

په دې کې شک نشته چې ادب دیوې منکوړې، احساس یا ارمان د بیانولو ذریعه ده. په دې صورت کې ادب د بیان طرز یا شکل دی. دلته نو بیا دا پوښتنه راولاړېږي چې ادب کومه خاصه موضوع یا محتوا هم لري که نه؟ ځینې وایي چې ادب کومه ټاکلې موضوع یا محتوا نه لري. که دا خبره سمه وي، نو آیا موږ کولی شو چې د ریاضي فرمول، د فزیک یو قانون یا د دولت بنځه کلن پلان د شعر په ژبه شرح کړو؟

ځینې نور وایي چې دادب موضوع انسان دی، خو دا باید هېره نه کړو چې انتروپولوجي، تاریخ، ټولنپوهنه، اروا پوهنه، فیزیولوجي، اناتومي او ځینې نورې پوهنې هم پر انسان بحث کوي. که موږ خپل کلاسیک ادب ته رجوع وکړو نو ګل او بلبل، شمع او پتنګ، له انسان نه مافوق او ماتحت شیان او موجودات، غرونه، رغونه او داسې نور هم پکې راغلي دي. په دې اساس، ادب کومه خاصه موضوع نه لري، بلکه په هره موضوع باندې غږېدای شي. له همدې امله یو زیات شمېر ادبپوهان په دې عقیده دي چې ادب په ښکلېو او احساس پاروونکو الفاظو کې دیوه مطلب بیان ته ویل کېږي، د ادب له پاره مطلب (موضوع) اختیاري بڼه لري، لیکن خوندور او احساس پاروونکي الفاظ یې لازمي شرط دی او په حقیقت کې همدغه د بیان څرنګوالی (شکل) د ادب ذاتي او لازمي توک دی. ادبي اثر خپل ارزښت نه له منطق څخه اخلي، نه له اخلاقو، نه له علم، نه له فلسفې، نه له ایډیالوجۍ څخه، بلکې له هنري شکل څخه یې اخلي.

شعر چې د ادب یو مهم توک دی ، هغو مره عقلاني نه دی . لکه چې غیر عقلاني دی . استعارې، تشبیه‌کانې ، تصویر، تخییل ، مبالغه او په مجموع کې ابداع (یا تخلیق) شعر او ادب تر له عیني واقعیت څخه د لیرې کېدو له پاره خدمت کوي او که یو، تني مختصات له شعر او ادب څخه نفي کړو وچ او ساړه واقعیتونه به پاتې شي چې بنایي د سایښس پوه پاملرنه ځانته را واړوي .

ځینې کسان پر هغو ادبي آثارو باندې سخته حملې کوي چې تعهد ته غاړه نه ږدي . د دې خبرې مانا داده چې شاعر یا لیکوال باید خپل آثار دیوې تړاکلې ایډیالوجۍ تابع وګرځوي او د هغې د تبلیغ او ترویج له پاره متې را ونغاړي . داغوښتنه اوسنۍ نه ده . پخوانو پاچها نو، فیو ډالانو، د کلیسا لارښوونکو د مذهبي فرقو پېشوا یانو او ډول ډول سیاسي لیډرانو همېشه شاعر او لیکوال ته دستور ورکړی دی چې د دوی د تمایلاتو پیروي وکړي. دوی ټولو له شاعر او لیکوال نه د تعهد غوښتنه کړې ده او د هنر آزادۍ ته یې په سپکه سترګه کتلي دي . په دې اساس پخپله «تعهد» د همېشه له پاره مثبت ارزښت نه ګڼل کېږي . البته دا یوازې ادیب نه دی ، بلکه له سایښس پوه څخه هم هر کله د تعهد غوښتنه شوې ده. له دې امله د پانشو ویلای چې هر تعهد ښه دی یا هر تعهد بد . اما که شاعر، لیکوال یا هنرمند آزادوي نو څه ؟ بنایي ځینې شاعرانو او لیکوالو به زیان رسوونکي آثار هم ایجاد کړي وي ، خو د هغو ضرر په هر صورت له هر افراطي مفکورو، تفوق غوښتونکو سیاستونو او فرقه یي تعصباتو څخه لږ دی . شاعر او لیکوال غواړي چې ټول خوشحاله وساتي او په ژوندکې خوند پیدا کړي

هرڅومره چې د شاعر او لیکوال مخاطب کسان زیات وي او دده له آثارو څخه ټول یا تقریباً ټول خلک خوندوا خلي، نو به دې کې د چا څه تاوان دی؟ که شاعر او لیکوال یوازې د محدودې ډلې، فرقې، قشر، یا طبقې په ګټه یا نور و په ضد څه ووایي، نو دده ایجا دیات به د فصل په مد لنډ و سره مراوي شي. فصلي ادبیات او دوږمې ادبیات د کدو ډبوټو په شان ژر وده کوي او د چنار سرته خېژي، خو د فصل په اوښتو سره کدو مراوي کېږي او چنار پاتې کېږي.

هغه ادبیات چې د وسیلې له مقام نه د هدف مقام ته پورته شي، د پراخ هیومانیزم له پاره خدمت وکړي، ژوند ته رنګیني او تنوع و بخښي. د فصل له اوښتو سره له منځه نه ځي. پا سیفېزم (سوله خوښونه) د طبیعت ښکلا، انساني مینه، خوشبیني، په راتلونکي باور او داسې نور ارزښتونه عام انساني ارزښتونه دي. هر شاعر او لیکوال چې دغه ارزښتونه په خپلو آثارو کې راونغاړي په تاریخ کې به یې نوم ثبت شي.

شاعر او لیکوال په هرصورت متعهد دی، حتی په هغه وخت کې چې یوازې خپل عندي تاثرات ښکاره کوي. البته ددې امکان شته چې ادیب اش دې کله کله زیان رسوونکي افکار هم خپاره کړي. ټولنه حق لري چې دغه ډول آثار سانسور کړي. مګر له ټولنې څخه ولې دا پوښتنه نه کېږي چې هغوی په ساینس پوه باندې ولې قیود نه وضع کوي. د اورانو ونکې وسلې چې نړۍ یې په لړزه راوستې ده د ساینس پوهانو د کار محصول ده. هغوی څوک نه غندي، ځکه چې د دولتونو ته خدمت کوي، مګر که شاعر د لوږې او قحطۍ په ضد

کې دګل او بلبل سندرې وايي ، نو د ټولو مخ ده ته وراوړي او ورته وايي : کاکا، ته نه پوهېږې چې د اوړو نرخ په څو دی؟ آيا داله ټولنې سره جفا نه ده چې خلک اوږو اوغوړيو ته په ليکه ولاړ دی او ته د زلفو او سنبل په ستاينه کې بابولالې وايې ؟

هو شاعر بايد د خلکو د زړونو ترجماني وکړي . هغه له هر څه نه زيات له عواطفو سره سروکار لري . کېدای شي چې کوم شاعر دې د اوړو، تېلو او غوړيو په مدح کې ترانې هم ووايي . ليکن دا د شعر قلمرو نه دی . تاريخ او عنعنې شاعر ته ځينې موازين د ميراث په توګه پرايښي دي .

د داستان ليکونکي کار د شاعر له هغه سره يو څه توپير لري . داستان ليکونکی د خپل چاپېرياله انځورګر (نقاش) دی . د انځورګر کار عکاسي نه ده ، بلکې نقاشي ده . داستان ليکونکی د قشري واقعيتونو پرځای د شاوخوا پېښو ماهيت انځوروي . دده د ليکنې په پس منظر کې د پېښو علتونه په هنري پېرايه کې ښکارېږي . هغه وعظ نه کوي ، دستور نه ورکوي ، منطق او فلسفه نه بيانوي خو دده له بيان نه لوستونکي خپلې تجربې غني کوي . د پېښو له ژورو سره اشناکېږي ، د پېښو په تسلسل کې منطقويني ، عواطف يې راوپارېږي او نړۍ ته له نوې پراختيا ور بخښي .

کېدای شي چې داستان ليکونکی د يو ادبي ايډيالست (آرمان خوښونکي) په توګه له اوسنيو ترخو واقعيتونو څخه د يو ايډيال غېږې ته پناه يوسي . ادبي کره کتونکي د يو علمي تحليل په ترڅ کې کولی شي چې له د غسې ارماني ليکنو څخه د وخت نبض او ټولنيزې ستونزې

تشخیص کړي. انساني ټولنې دېر ناپېژندل شوي اړخونه هم لري.
حتمي نه ده چې لیکوال د همېشه له پاره ټیپیک کرکټر شرح کړي. که
په ټولنه ټیپیک شخصیتونه شته نو غیر ټیپیک شخصیتونه هم شته.
ادب باید د ټولنې ټول اړخونه په پام کې ونیسي. دیوې واحدې او
کلیشه یي نسخې استعمال د ادب له غني کولو سره مرسته نه کوي.
د ادب ښکلا په تنوع او رنګینۍ سنابسته ده. تخلیق او ابداع د دې غوښتنه
کوي چې کله کله باید پخواني نورمونه مات شي. په نوبت کې نیمګړتیاوې
باید د بخښنې او اغماض له لیارې د بشپړتیا خواته ولاړې شي.
د دې یادونو په نتیجه کې غواړم دا ووایم که ادبي آثار —
یوازې د اخلاقي فساد د رواجولو په نیامت نه دي ایجاد شوي، نو
ادبي کره کتونکي ته نه ښایي چې د تمایو په لګولو سره هغوی له تهدید او
تورتهمتې سره مخامخ کړي. ادبي تخلیق له هرڅه زیات آزادۍ ته
اړتیا لري.

شاعر د شاعر په نظر کې

شاعر یوازې شاعر نه دی، څوک چې د ادب د تاریخ په هینداره کې د ده څېره گوري، نو هلته د ده د شخصیت له شعر سره پیوستون لري. شاعر پېژندنه د شعر پېژندنې په شان نه خو د دواړو ترمینځ خلیج نشته، کله چې شاعر د «فنا فی الشعر» مقام ته ورسېږي، هلته شعر او شاعر سره یو شي، د شعر پېژندنې او شاعر پېژندنې تو پیرونه له منځه لاړ شي. څوک چې غواړي شاعر ته مستقل شخصیت ورکړي، نو له ځانه ورته افسانه جوړوي او یا د شاعر د ژوند هغه څنگو نه مطالعه کوي چې غیر شاعرانه دي.

د شاعر پېژندنې مضمون د لیکوال له هدف څخه رنگ اخلي. په حقیقت کې د شاعر شخصیت د دې لپاره څېړل کېږي چې د هغه شعر ښه وپېژندل شي. په دې صورت کې، یعنې د شاعر د ژوند تر څېړلو

وروسته ، اسطورې او سمبولونه روح پیداکوي ، یوحرکت یا یوشی تمثیلوي ، یوه عاطفي او هنري تجربه او پېښه بیانوي ، او د ظواهرو تر شا مستتر باطني حالات له تیارې څخه رڼا ته راوزي .

لیکن یو ټول « شاعران » شاعران نه دي ، ځینې له وزن او قافیې څخه یوا سکلیټ تیاروي ، ځینې بدن انځوروي ، ځینې انځور په حرکت را ولي او ځینې همدغه حرکت ته معنا او مفهوم ورا غوندي او د همیشه توب تاپه ور باندې لګوي . په دې ترڅ کې د دغو شاعرانو دلې ته یومست لیونی شاعر ورګډېږي ، هغوی ټول په جذبه راولي ، طغیان ته یې لمسوي ، لیونی شاعر د و یلو لپاره څه لري ، خو دده خبرې عادي نه دي ، خو بې دې ، خو بې مفهومه غوندې ښکارې . هو ښیاران شاعران غواړي هغه تجرید کړي ، ځکه چې هغه « دورځې په نرخ ډوډۍ نه خوري » د رسم او رواج چوکاټ ماتوي او د عصبیان جنډه پورته کوي .

که تاکل شوې وي چې د شاعر پر فکري مکتب باندې قضاوت وشي ، نو شاعر باید د خپلو مجموعو په مجموع کې ولټول شي . شاعر د ساینس پوه او یا فیلسوف په شان وا قعیتونه په میتودیک او سیستماتیک ډول نه بیانوي . (تضاد) د شعر صنعت دی او شاعر کله کله د طنز په ژبه منفي تر مثبت وایي . شاعر مبالغه کوي ، فانتیزي وایي ، له اسطورو او سمبولو سره سروکار لري .

شعر د تخیل او عاطفې بچی دی ، خو ساینس د پر سختګیری .

په ساينس کې مبالغه او متضادې خبرې د يوه تيسټ اعتبار او صحت ته زيان رسوي . هنر په ښکلا او عواطفو پسې ګرځي او ساينس د طبيعت قوانين پلټي . يوه مفکوره هغه وخت شعر ته لاره پيداکوي چې شاعرانه شوې وي . کېداى شي شعر افسانه وي ، فانټېزي وي ، خو هرڅه چې وي بايد ښکلى او هنري وي . د شعر الفاظ چارج شوي وي ، په داسې حال کې چې د ساينس الفاظ يو ښېطرفه مدلول په ښه کوي .

ليکن مونږ د شاعر په باره کې خبرې کولې او هغه هم د دې لپاره چې دى شعر وايي . کېداى شي ! چې شاعر له خپل شعر نه پر دى وي . کېداى شي چې شاعر له خپل ځان نه هم پر دى وي . د ښه شاعر معنا دانه ده چې خبرې يې علمي يا کټوري وي ، بلکه ښه شاعر هغه دى چې خبرې يې خوند ورې وي . ټول خوندور شيان حتمي نه ده چې کټه ولري . شعر زيان رسولى شي ، حتى ساينس له هغه نه زيات زيان رسولى شي ، ليکن شعر هنر دى او هنر لکه ساينس يو حياتي ضرورت دى . هنر له واقعيت سره دومره اړه نه لري ، لکه څومره چې يې له ارزښت سره لري . بې هنره ژوند بېخونده او بې ارزښته دى .

زه فکر کوم مستعجد نقادان به ددې بې ولاړ لو په لوستلو ډېر زيات پر سبدلي وي . البته مونږ هغه شاعران نه شو هېرولى چې د متعهد و شاعرانو په نامه ياد يږي . که د هغوى شعرونه په هنري لحاظ کمزوري او نيمګړي هم وي ، ډېره پروا نه لري ، ځکه چې شعر د هغوى لپاره يوه وسيله ده .

د «متعهد شاعر » اصطلاح د سیاست پان انو د لاس آله گرځیدلی ده .
هغوی غواړي له شاعر نه « پنډک بردار » جوړ کړي ، دیوه گوند
یا یوې فرقې طرم ترې جوړ کړي . سره شیطان د « تعهد » له
اصطلاح څخه متروکه جوړه کړې وه چې د شاعرانو دکنټرول لپاره
به یې ترې کار اخیست . یوازې دانه ، بلکه «متعهد شاعر » مکلف وو
چې له پلان سره سم په او وند کې یو یا دوه شعرونه جوړ کړي او هغه
هم باید دورځني مصلحت تابع وي . کیدای شي هر گوند او هره فرقه
له ځانه سره متعهد شاعران هم ولري . لیکن رښتوني او اصیل شاعر
د ټول بشریت سره تړون او مینه لري . هغه له صوفي سره دومره
توپیر لري چې صوفي د دنیا پر بیږدي او زمونږ شاعر یې ترخیلې
وسې نه پریږدي ، د دې لپاره یې نه پریږدي چې هغه د ټولې
لپاره ښکلې کړي . بنایي شاعر و نشي کولی چې د دنیا ښکلې کړي
خو هغه کولی شي د دنیا ښکلې وښیي او څوک چې د دنیا د ده په
شعر کې گوري هغه د او سیدو وړ وگڼي . شاعر مونږ ته وایي :
ژوند په کولو ارزي . د اُفق ښکلا ، د سپوږمۍ پلوشې ، دوږمې
نوازش ، د گلانو عطر ، د رباب نغمې ، د آبشار زمزمې ، د مینې
جادو ، د صراحي قلقل ، د بلبلانو سندرې او په سلگونو پدیدې زمونږ
ژوند ښکلی کولی شي .
شعر له ښکلا او عاطفې پرته بوڅه لري ؟ هیڅ . آیا همدغه
کفایت نه کوي ؟

منثور شعر او منظوم نثر
د ادبي اصطلاحاتو مسأله

کله چې ما د راحت زاخیلي د «سین څپې څپې، اباسین څپې څپې» لنډه کیسه ولوستله د هغې له شاعرانه ښایست څخه دومره متأثر شوم چې له اکثرو شعرونو څخه مې دومره خوند نه دی اخیستی په دې وخت کې مې د لوی استاد خبره په نظر کې وګرځېده چې د پښتو د مفکر او نقاد شاعر ګل پاچا الفت د نثر په باب یې کړې وه. لوی استاد ویلي وو چې د الفت له شعر څخه مې د ده نثر زیات خوښېږي. له دغې یا دوې څخه د لوی استاد مقصد دا و چې د الفت نثر هم د ده د شعر په شان ارزښت لري. دا خبره د راحت زاخیلي، الفت، حبیبي، شپون، تره کي او نورو شاعرانو په باب هم کولای شو چې د هغوی هنري نثرونه د پرځله د هغوی له شعرونو نه زیات خوندور دي. زه په خپله د شپون له طنازه نثر (یعني له طنزنه ډک نثر) څخه د هغه د شعر په نسبت

زیات خوند اخلم که څه هم د هغه ځینې شعرونه د ډیرو ښو شاعرانو له شعرونو سره په لومړي کتار کې دریږي. د منشي احمدجان د (آدم درخانه) نثر په خپله ښکلا کې د درخانې له ښایست نه کم نه دی. د (روه) په سیمه کې ډېر نثر لیکونکي شته چې د هغوی د لیکنو خواږه او پاسته الفاظ، مینځلې ژبه، لطیف خیال، هنري تصویر، او قصه ییز سبک نږه وړونکی شاعرانه رنګ لري.

اوس پوښتنه دا ده چې د غسې خوندور او ښکلي نثرونه چې د هنر په تله کې له اکثرو شعرونو څخه زیات وزن لري، مګر موزون نه دي، په څه نامه یاد کړو؟ زما په پوهه دلته د سیستم مسئله رامنځ ته کېږي.

ادبي اصطلاحات هم تر یوې اندازې د بدیعي ادب په شان د انفرادي ذوق تابع پاتې شوي دي. داسې کسان شته چې په شعر کې یې حکمت او فلسفي مفکورې خوښېږي، ځینې په شعر کې له پند او وعظ څخه خوند اخلي، څوک حماسه خوښوي، او ځینې هم مینه، تصویر او داسې نور که مونږ بدیعي ادب د هنر توک بولو، نو بیا هلته د یوه اثر هنري ارزښت د معیار په توګه ګڼل کېږي. په دې صورت کې د سرمحقق زلمي هېوادمل دا خبره اعتبار لري چې وایي: «یو منظوم اثر چې شعریت ونه لري په ادبیاتو کې د مطالعې ځای نه لري.» دلته . د سیستم موضوع مطرح ده، په دې ډول: بدیعي ادب (چې له اخلاقي ادب سره توپیر لري) د هنر له ډولونو څخه یو ډول دی. په دې اساس یوازې هغه ژبنی اثر چې هنري ارزښت ولري، ادبي اثر ګڼل کېږي. د همدې معیار له مخې، مونږ ځینو نثرونو ته چې هنري ارزښت

لري ليکن د آزاد شعر په اندازه آهنګ نه لري (منثور شعر) ويلای شو. په همدي ترتيب، هغه نظمونه چې وزن او قافيه لري، مګر شعريت نه لري د (منظوم نثر) په نامه يادولی شو.

ځيني کسان وايي : « الامناقشة في الاصطلاحات » دا خبره خو په ساينس کې هيڅ جواز نه لري. په ادبياتو او ټولنيزو پوهنوکې هم د اصطلاحاتو يووالی مطلوب کار ګڼل کيږي او لازمه ده چې د سيستم په چوکاټ کې د غه کار سرته ورسيږي. که څېرې په ټولنيزو پوهنو او ادبياتو کې يوه اصطلاح په خاص مفهوم پکار وی نو بايد چې څېړونکی د څېړنې له پيل کولو څخه د مخه خپله اصطلاح په دقيق ډول تعريف او تحديد کړي. يو ځلي چې اصطلاح تعريف شوه بايد د څېړنې تر پايه پورې په همافه مفهوم استعمال شي او په دې توګه بايد د مغالطې او سفسطې مخه ونيوله شي.

دلته د ادب او پوهنې پوښتنه هم راولاړيږي. که په ساده ژبه ووايو ادب هنر دی مګر ادبپوهنه علم دی. ځيني کسان د غه موضوع په دې ډول بيانوي : « ادبيات دوې څانګې لري : يوې ته يې تخليقي ادب وايي او بلې ته تحقيقي ادب. په منطقي لحاظ يعني د سيستم له مخې، د غه تصنيف اصولي نه دی، ځکه په (تحقيقي ادب) کې (ادب) اصلي کلمه ده او (تحقيقي) يې توصيف دی. په داسې حال کې چې (تحقيقي ادب) اصلاً علم دی (يا په واقعيت کې د علم کېدلو له پاره يو کوشش دی.) نو (ادب) ورته نشو ويلای. او سني تمايل دا دی چې د (تحقيقي ادب) پر ځای د (ادبپوهنې، ادب پېژندنې، ادبي څېړنې) اصطلاحات استعمال شي.

ويل کېږي چې ادبپوهنه درې عمده څانګې لري: ادبي تيوري، ادبي تاريخ، ادبي نقد (کره کتنه). د دې ترڅنګ د ادبي مکتبونو (ادبي ميتودونو) سبک پېژندنې مسالې هم په څانګې توګه څېړل کېږي.

ادبي تيوري دادب د منشاء، ماهيت، انکشافي يون، ارزښت او غايي (هدف) په باره کې هر اړخيزه څېړنه کوي. ادبي تيوري سايېنس نه دی، بلکه د ليکوال له فلسفي دريځ او نړۍ لید (جهانبيني) څخه را اقتباس کېږي. څرنګه چې د اکثرو ليکوالو فلسفي دريځونه يو تر بله توپير لري، نو په ادبي تيورۍ کې د نظرياتو يووالی نه ليدل کېږي، په داسې حال کې چې په سايېنس کې د پوهانو تر منځ عمومي موافقه (consensus) اساسي شرط ګڼل کېږي.

ادبي تاريخ له ادبي تذکرې سره توپير لري. په ادبي تاريخ کې ليکونکی د ټاکلي معيار پربنسټ ديوې ادبي حوزې ټولنيز، اقتصادي، سياسي او کلتوري عوامل چې پر ادبي جريان باندې يې اغېزه درلودلې وي، د هغې تاثير په تناسب شرح کوي او بيا د ادبي نهضت يا جريان تېيک او ممتاز استازي معرفي کوي او استثنايي حالات او اشخاص هم له نظره نه غورځوي.

ادبي کره کتنه ديوه ادبي اثر پرهنري ارزښت باندې بېطرفانه بحث کوي، ښه او بد اړخونه يې څېړي او زيار باسي په دې وسيله په لوستونکي کې ايستيتکي ذوق راوپښ کړي او د ښکلي او بدرنګ د تميز معيارونه ورته بيان کړي. ادبي کره کتنه په بېرته پاتې ټولنو کې معمولاً ښه نتيجه نه ورکوي. ځکه په داسې ټولنو کې يوسړی يا سپين ږيرې دی يا تور ږيرې دی، بږګ ږيرکان پکې نشته. (ويل کېږي چې ديوه سياسي ګوند ديوه فراکسيون مشر، خو ځلې سپين ږيرې شو او په خو ځلي تور ږيرې شو

همدومره کافي وه چې د مقابل فراکسیون مشر اعلان وکړي: پلانی له نن ورځې وروسته سپین چرګ شو ، نور بې پښوا توره پنکه درلوده او نور بې اوس لري .)

که ادبیو هنر (یا علم تر قدرته پورې) وي ، نو په علم کې شخصي حب اوبغض ځای نه لري . په مجموع کې د ادبیو هنر او په خاص ډول د کره کتنې لانجې له دې ځخه راولاړېږي چې ادبي آثار معمولاً د سم او ناسم (صحیح او غلط) په تله نه تلل کېږي (ځکه دا د ساینس تله ده) بلکه د وی د انفرادي ذوق په معیار ارزیابي کېږي او لا تر اوسه د ارزښتونو د تللو له پاره د داسې وړ او منل شوې تله نه ده جوړه شوې . بنا پر دا به لویه بدبختي وي که ساینس د هنر قلمرو ، تر خپل کنترول لاندې راولي او هنري معیارونه خپل ځای علمي معیارونو ته خوشي کړي : هنري تخیل انسان ته موقع ورکوي چې له وخ ، ترخه او ساړه ژوند څخه د څو شیبو له پاره ځان ګوښه کړي او د هنر په نړۍ کې مشغول پاتې شي .

دشعر ذاتي او بهرني معيارونه

د یونان نامتو فیلسوف (سوکرات Socrates) دې خبرې
اریان کړې و چې ځینې ساده کسان څنګه ښه ښه او ښکلي
شعرونه ویلای شي؟ ده ولیدل چې دا دوا ره نه سرنه جوړیږي
او کمان یې وکړ چې دا ښکلي شعرونه د هغوی نه دي، بلکه د هغو
رب النوع څخه شعرونه دوی ته ځي او راوباسي. په دې اساس د سوکراټ
په خلکو کې دا خبره مشهوره شوه چې شعر د عقل په زور نه جوړیږي
بلکه هغه یو ډول الهام دی.

(سوکرات) په شعر کې بهرني معیارونه ارزښت ورکاوه.
دا قصه بې بنیاده نه ده چې وایي: (سوکرات) هوښیار شاعران
د اتن له ښار نه وشړل، لیکن په دې تفاوت چې ده د شاعر
غاړې ته د ګلو یو امیل وراچاوه او په درناوي سره یې
رخصت ورکاوه. هغه چې د یونان تر ټولو هوښیار سړی

ګټل کېږده ، د شعر او شاعر په اهمیت پوهېږده ، ده د (هومر) پر شعر انتقاد کاوه چې هغه د پر ښکلی او خوندور دی ، لیکن د ځوانانو اخلاق خرابوي ، ځکه دده په شعر کې ارباب الانواع دروغ وایي ، جګړه کوي ، غلا کوي او له ننګه نه کار اخلي . که ځوانان د هغو لاره تعقیب کړي نو لنډ ژوند به له فساد نه ډک شي .

(ارستو) که څه هم د صوري منطق واضع او د سیاست پوهنې تیوریسن دی ، خو هغه شعر د منطق او سیاست په خدمت په کار نه اچوي ، بلکه دعوا طلبو د تلطیفه او روحي تسکین (Catharsis) وسیله یې ګڼلی ، ارستو د شعر ذاتي اهمیت ته پاملرنه کوله . د شعر په باب دده (تقلید) نظریه څینو ادبپوهانو د بیا جوړونې (بازآفریني) نظریه ګڼلې ده . د ساینس او هنر (په تېره د شعر) توپیر له همدې ځایه پیلیږي . ساینس کټ مټ واقعیتونه بیانوي او تجربې ته عندي نظر نه ورکوي په داسې حال کې چې هنر له واقعیتونو (Facts) څخه یو خپل برداشت (انطباع) یو اضافي کار هم کوي او یا دیوچیا خبره « هنر له واقعیت څخه دوه واړي لیرې کیږي .»

کله کله داسې هم پیښیږي چې هنر هیڅ نه وایي ، لکه د موسیقۍ نغمه ، د شفق تابلو ، د وینوس مجسمه او نور .

د غنچې په څېر به سل ژبو خاموش یم

لکه بوی هسې په پټه خوله ګویا یم

(رحمان بابا)

د شعر پېژندنې او ادبي نقد (کره کتنې) معیارونه د

(سوکرات) او (ارسطو) له نظریو څخه نشأت کوي او زیاتره د (افلاطوني نقد) او (ارسطوي نقد) په نومونو یادیږي.

(افلاطوني نقد) ځکه ورته وایي چې د (سوکرات) نظر افلاطون (platon) له خوا بیان شوی دی. (افلاطوني کره کتنه) په شعر کې اخلاقي تعهد او کټور توب ته ارزښت ورکوي خو د شعر ذاتي معیارونه هم په پام کې نیسي. (ارسطوي کره کتنه) د شعر ذاتي معیار اساس ګڼي او بهرني معیارونه ورته اضافي ښکاري. که څه هم (ارسطو) بنایي داسې خبرې نه وي کړې خو دا نظریه د ده له فلسفې سره اړخ لګوي، ځکه چې د هغه په نظر ښه علم هغه دی چې مادي ګټه ونه لري. د آزادو هنرونو اصطلاح هم له هغه ځایه راپیدا شوې وه. (ارسطو) به ویل چې غلامان باید کار وکړي او ګټه پیدا کړي آزاد خلک باید فکر وکړي او باید آزادو هنرونو ځان مشغول کړي. د هغه د ویل هنرونه د ګټې لپاره نه دي. د (رومانتیزم) پلویانو به پوره زړه ورتوب د «هنر د هنر لپاره» نظریه وړاندې کړه او د هنر ذاتي ارزښت یې د هنر له بهرني ارزښت څخه غوره وګاڼه، د دوی په نظر هنر باید د ښکلا ښکارندوی وي. ښکلا باید په ساده ډول تعبیر نشي. کېدای شي د یو بلربنګه سري انځور (تصویر) ښکلی وي، یعنې په ظریفانه او هنري توګه ترسیم شوی وي. داسې هم ویل کېدای شي چې هنرمندانه تقلید پخپله هنر دی. کېدای شي چې هغه شی (یا خوک) بد یا بدرنګه وي، خو د تقلید په برکت هنري ارزښت پیدا کړي.

(کانت) د رومانتیزم) د شعار لپاره یوه تیوري هم وړاندې کړه. د ده په نظر د انسان په روح کې د ښه او بد د پېژندلو لپاره قاضي شته چې هغه وجدان دی او د ښکلي او بدرنګ قاضي د ذوق په نامه یادېږي. ښکلا خوښونه پخپله یوه غریزه ده چې د ګټې او تملیک له غریزې نه جلا ده؛ هنر د ښکلا خوښونې له غریزې سره اړه لري. په دې حساب هنر پخپله غایه ده او که څوک یې د وسیلې په توګه استعمالوي هغه بېله خبره ده.

ښایي دا پوښتنه مطرح شي چې د شعر د خپلواکۍ او ذاتي ارزښت لپاره ولې له دومره ټینګار څخه کار اخیستل کېږي؟ د دې پوښتنې یو ساده ځواب دا دی چې شعر باید له استبداد، ړانده تعبد، جزمي انکارونو، د یکتات او کلیشه یي شعارونو له مرییتوب څخه وژغورل شي او د سیاسي تاجرانو د لاس آله و نه ګرځي. شعر هغه وخت د انسان د هیلو او آرزوګانو ترجماني کولای شي چې د ابتکار او نوښت آزادي ولري. شعر د وجدان غږ دی. شعر هله تبارز کولای شي چې د وجدان په آزادۍ پابندي نه وي. شعر د مینې او عاطفې د څرګندولو لار ده، باید د کرکې او بدبینۍ د خپرولو او د جګړې او قتل د توجیه کولو وسیله و نه ګرځي. هغه شعر چې د خلکو لپاره نه وي پایښت نه لري، پخپله مري. هغه شعر چې د ورځې د سیاسي مصلحت لپاره د جابرانو په حکم لیکل شوي وي ډېر لږ ژوندی کولای شي، خو هغه شعر چې د بشریت لپاره ویل شوی وي ژوندی پاتې کېږي.

PROPERTY OF ACKU 6075

AN
INTRODUCTION TO POETRY

(An anthology of Poetry)

By

Candidate Academician Mohd. Siddiq Rohi

1996